# د درک شېبې

## (د ویښې او خوب تر منځ د خیال څرکونه)

لیکوال: محمد انور وفا سمندر



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څنګ سره ایښي کتابونه (۳)

دا يو غړپ غږورڼا، (د درک شېبې)

تاسو (                    ) ته، په ټول درنښت ډالۍ شوه؛

د زړونو او ذهنونو د روښنايۍ په نيت يې وڅښئ!

مينه اکادمي



(c) ketabton.com: The Digital Library

# کور ودانی:

ددې کتاب، د چاپ لګښت برخه کې، ښاغلي نجم‌الدين سياس، له خپلو شخصي امکاناتو، له مينه‌اکاډمۍ سره مرسته کړې.

مينه‌اکاډمي، خپل ټول فعاليت، په رضاکاره او وړيا توګه، مخته بيايي؛ نو د مينې‌ولورينې دې چاره کې، چې هرڅوک برخه اخلي، هرکلی ورته وايي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلمو دغه باغچه، ډالۍ ده هغه چا ته، چې
ځان د خدای ګڼي او خدای د ټولو!
مبارک؛ خدای د ټولو دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه اکادمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خدای تعالی په نامه،

چې له نامه نه يې، د خالصې مينې او رحمت عطر،
زموږ پر زخم زخم زړونو، را اوري!



(c) ketabton.com: The Digital Library

**کتاب پېژندنه:**

**د کتاب نوم:** د درک شېبې

(د وینبې او خوب تر منځ د خیال څرکونه)

**لیکوال:** محمد انور وفا سمندر

**ډیزاین:** هېوادمل ګرافیکس (۰۷۸۶۷۸۵۷۲۰

FB.com/hewadmal.graphics

**چاپشمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**خپرندوی:** مینه اکادمي

**د خپرونو لړۍ:** (۵)

**لومړی چاپ:** د ۱۴۰۰لمریز لېږدیز کال پسرلی

مینه اکادمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


زما او (بل) نیمه تیاره دنیا ۱
عاشقانه قمار ۲
ماشوم او جنت سره ګډ دي ۲
د ناپوهۍ «لیدل!» ۲
د حکمت سواد ۳
مینه د حقیقت هېر نوم ۳
شیبه د ابدیت زمانه ٤
یوه ترخه خو اړینه پوښتنه: ٥
ژوند د خدای د نوم رنګینې انګازې ٥
خدایي غږ او رڼا ٦
چوپتیا، د کلماتو بې شکله شکل ٦
هرڅه وس کوي، چې په ټول جوهر راڅرګند شي ۷
د ښځو د حقونو په اړه: ۸
د خدای په خوښه اوسېدل ۸
خدای په ټوله دنیا شته ۹
کور، په ژوند را تاو اندام ۱۰
له خپله درسه تېښته! ۱۱
ابدیت ۱۱
۳٦۰ درجې لید لوری ۱۲
د جنت سپینه سمفوني ۱۲
ځومره شعر شوي یو ۱۳
شیبه د ژوند زمان ۱۳
د مکان، زمان هاغاړه کلی ۱۳
د انګیرنو او باورونو روح ۱٤
ژوند پر سواد مشر ۱٤




(c) ketabton.com: The Digital Library


قهر د ذهن سرطان ۱۵

ډبرین احساسات-ډبرین ذهنونه ۱۵

د بت شکن کار دننه دی ۱٦

د رنګینو فکرونو سمفوني ۱٦

کشف ۱۷

د شوپرک زړه عطر ۱۷

د لیدلو، پوهېدلو او اوسېدلو دنیاګانې ۱۷

مینه بې جوړې ښېګڼه ۱۸

د ژوند ارتفاع وګورئ! ۱۸

د خپلې بېسوادۍ ننداره! ۱۸

غړ سندره، او کار نڅا ۱۹

جنت خپله کرونده ۲۰

زمکه د خدایګوټو قتلګا ۲۰

دروغجن ژغورندویان ۲۱

زمکه، ذهني-رواني تابلو ۲۱

وګړی، د خپل فکر او عمل کرونده! ۲۱

خدای دا اوس شته ۲۲

هرڅه دا اوس ۲۲

زړه د خدایي ښایست تابلو ۲۲

خدای چې لرو، وېرې ته ځای نشته ۲۳

مینه د هرڅه ځواب ۲۳

د خرد او حکمت په رود کې هستوګنه ۲٤

د هرچا خپل خدای؛ یو خدای ۲٤

پوښتنې زوروري توري! ۲٤

له عطرو جوړې کلمې ۲۵

زاړه ذهني کمیسیونه ۲٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ورکې وهم ۲۶

د ژوند خزانه ۲۷

غرونه، مېږن فریادونه ۲۷

مینه ورکول ۲۷

د آسمان امتحان ۲۸

ونه ژوندۍ ده ۲۸

ونې سرودګرې ۲۹

موږ نیمه انرژي په قمار وهلې! ۲۹

څو پوښتنې: ۳۰

د حقیقت د ارادې ژوندی غږ ۳۱

مېین زړه، د وجود راه بلد ۳۱

په عشق اوښتل ۳۲

انسان د عاطفي غلاوو ډاکو! ۳۲

د حقیقت کتاب ۳۳

د ژوند سمفوني ۳۳

هستي، د رزم ستر ډګر ۳٤

زمکه، د غږ ناتمامه سمفوني ۳٤

د آزادۍ غږ ۳٤

له سمڅې راوتل ۳۵

وېره که عشق؟ ۳۵

د مینې ناتمامه ښایست ۳۵

د مادي عقل سترګې ۳٦

مینه روزي ۳۷

د غږ او رڼا بچیان ۳۷

سکوت، د پوهې سرچینه ۳۸

د ژوند قدیمي ښوونځی ۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیا، رښتیا شوی خوب ۳۹
هولوکاست او عقل ۳۹
زه، ته، هغه؛ ټول وړونکي دي ٤٠
شیبه شیبه نڅېدل ٤١
دنیا، د غږونو ناتمامه خزانه! ٤١
ټول ژوند، یوه ساده جمله ٤٢
حال د روح زمان ٤٣
متن، د خیال ذهني ننداره ٤٣
معنوي آزادي ٤٤
هر یو خدای په لور مسافر ٤٤
جګړه د ذهني سافت ویر ترشح ٤٥
هر وګړی جلا ګل ٤٥
د خوب سفرونه ٤٦
ونې او موږ، یې سوالګر ٤٦
ژوند د خدایي ارادې شکل ٤٧
په موږ کې پټ قاتلان! ٤٧
یو نوی پیل ٤٨
د باسوادۍ پټه ناپوهي ٤٨
ګوربت د ویښ روح سیمبول ٤٩
مستقیم درک ٤٩
غږ، د هر وګړي مدرسه ٥٠
غږ مشر شاعر ٥٠
بیروني تیارې د دروني تیارو انعکاس ٥١
ټول روا دي ٥٢
له ذهنه را څڅېدلې تیارې! ٥٢
وګړي، د خدایي غږ څاڅکي ٥٣

(c) ketabton.com: The Digital Library


اخر سر ۵۳
خدای را سره دی ۵٤
ولې د يو بل سر، آزادۍ او مال ته غله! ۵٤
مینې اکادمیسن مسیج ۵۵
زه څوک او څه شی ۵٦
له تاریخ څخه ځان را ټولول ۵٦
د اګاهی بام ۵۷
د پوهې ګلان ۵۸
خدای سره دومره نیږدې، چې نه وېل کیږي ۵۹
موږ په څه شي ورټولیږو؟ ٦۰
ژوند بې شکله کلمه ٦۱
سرنوشت خدایي فرمان ٦۳
د ژوند غریز لاسونه ٦٤
پوهه، پر وسپنه را شنه ژبه ٦٦
کرښې، لوی په لور خاپوړې ٦۸
ټول زه بندي ۷۰
له اوس پرته بل وخت نشته! ۷۲
سپین غږ د حیات چینه ۷۳
خدای او کتابي ډبرې ۷٤
له ډبرینو معناګانو آزاد غږ ۷۵
زه څوک او څه شی ۷٦
دا لیکل، څه غواړي؟ ۷٦
زمانه د غلا غځول ۷۸
مینه چې شته لاندې وباندې نه‌شته ۷۹
لومړی غږ سندره ۸۱
له خدای پرته ټوله بې‌سوادي ده ۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


بې نومه ۸۲

سر سره ولاړه مینه ۸۳

مینه د ټولو برخلیک ۸٤

ددغو اوتو بوتو لیک برخلیک مرګ دی ۸٤

تندی پر پوښتنو ویشتلی ۸۵

د جلاوطنۍ مدرسه ۸۶

مینه یوازې مینه ده ۸۷

له مینې سره خدای ښکاره کیږي ۸۸

زمکه د څېرو د جنګ تیاتر ۸۹

سبا، نه شوې زمانه ده! ۹۰

بې مینې هیڅ نه‌شته ۹۱

لارې د مینې بحر ته ورتوېږي ۹۱

د زمان د کپس بتان ۹۲

لیکوال ځان لیکي ۹۳

هر نوم د خدای د نوم بله څېره ۹٤

زه زمانه ۹۵

زه د پنځو ښامارانو کلا ۹۶

د درک شیبه ۹۹

حکمت او شیبه ۱۰۰

مینه په هره خوا چې ځي هغه ته رسیږي ۱۰۱

کله چې مینه په خوراک بدله شي ۱۰۲

مینه کور ته د ورتللو بېړۍ ۱۰۳

هغه خو ټولو سره په مینه دی ۱۰٤

«زه» د خاطرو هدیره! ۱۰۵

روح د آسمان وګړی ۱۰۷

برکت دې وي ۱۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مقدمې په ډول

هغه څه، چې دلته د کلمو په دغو جامو کې، څښئ؛ د نيمه ويښې-نيمه خوب، حسي وضعيت کې، د ناڅاپي تالندو «لمربارانونو» په بڼه، را پيدا او کشف شوي دي.

نو که يې ارزښت په توګه پېژنئ، ټول برکت يې د عشق او رحمت خدايي اقيانوس ته ورګرځي.

ژوند راته وايي چې؛ ټولې ارواوې ددغه ابدي اقيانوس، له بې شمېره تيو نه، د ژوند، بلوغ، پايښت او بقا شېدې څښي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما او (بل) نیمه تیاره دنیا

(د ویښې او خوب ترمنځ نیمه ویښې، درک او موندنې)

دنیا دوه برخې ده؛ نیمه یې زما، نیمه یې د (بل) برخه ده! زما برخه رڼا او ها د بل برخه توره تیاره ده!

زه- دا نېږدې نیمه پېړۍ- لګیا یم، چې د بل تیاره برخه، رڼا کړم!

خو خبر نه، چې (بل)، چې د ځان (ځان) دی- زما په شان لګیا دی، زما برخه- چې تیاره یې ویني، په زور رڼوي!

خو اوس مې عقل ځای ته راغی: موږ دواړه په غلطو ځایونو کې، په تیارې چړې راایستلې!

تیاره؛ خو ټوله د ذهن دننه ده!

رښتیا تاسو ووایئ:

آیا وخت یې نه دی، چې د (ځان) د تیارو له مکتبه، فاراغت حاصل کړو!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عاشقانه قمار

وايي:

«د هرڅه ترلاسه کولو لپاره بايد ټول کارونه د خدای په نامه او د هغه لپاره؛ پرته د څه شي له غوښتلو او توقع، تر سره شي. وروسته کېدای شي، چې د خدای د غره لوړو څوکو ته ورسېږئ او د حقيقت شوکت تر لاسه کړئ.»

## ماشوم او جنت سره ګډ دي

تېره ورځ عام مجلس کې، يوه بابا بل ته کيسه کړه:

يوه کوچني له بله وپوښتل: پاچايان به چشی (څه شی) خوري؟

بل کوچني ځواب ووايه: پاچايان «نينې»خوري!»

ماشوم رښتيا وايي او د ماشوم چلند له ژوند سره پر شخصي تجربه ولاړ دی. دلته ښايي ماشوم ته نينې خوړل،

خوږ جنت ايسېده!

## د ناپوهی «ليدل!»

لويه خدايه!

کلمې څومره بېوزلې دي!

د هغو د اندامونو په هندسه کې، حقيقت د مولانا رومي د فيل په لاس، پښه، خرطوم، سترګه، ګېډه، او بدرنګو

رمباړو، بدلېږي!

حقيقت د سپين، بې شکله، بې متنه غږ (ليدل، پوهېدل، اوسېدل)، دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلمې په بېلابېلو ژبو خاپوړې دي.
د دومره کلمو کارولو گټه دا شوه، چې خپله ناپوهي «ووینم!»

## د حکمت سواد

حکمت د پوهېدلو خالص-بې دلیله وضعیت دی.
دا پوهه وزن نلري، زمان پورې تړلې نه ده.
دا ژوندۍ او جاري پوهه ده.
دا د شېبې موندل دي.
دا همزمانه (لیدل، پوهېدل،اوسېدل) دي.
یعني دغه شېبه، هر ځای او هر شي باندې پوهېدل دي.
دا د حقیقت، سوچه وضعیت دی؛ چې هم د یوه میړي په دننه کې شته او هم په یوه استاد کې...

## مینه د حقیقت هېر نوم

«حقیقت یو؛ خو د ژوندو په خبر، بې شمېره ننداري لري.»
دا رنگین رنگین فکرونه او گروهې، دا راز راز فرهنگونه، خویونه، عادتونه، ځانگړنې، بې شمېر حقیقت طریقې، د انسانانو د اگاهیو متفاوتو وضعیتونو ته ځواب ویل دي.
دا دومره ستره تنوع، د هستۍ د سترې سمفونۍ، کمال ښيي!
زمکه د اوو ملیارده او څو آوازونو گډه لنډۍ او هایکو ده!
موږ په بې سارې سمفونۍ کې اوړو را اوړو!
آیا کله مو ځان او ددغو څو مېلیارده ترانه بولو په منځ کې، یو ښاد ریتم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچت کړی دی؟

او دا ټول د حقیقت په لټه کې دي.

خو حقیقت تر ټول تدوین شوي فکر - فرهنګ، بهر او ناپایه دی.

حقیقت د هغه چا دی، چې شېبه شېبه له هستۍ او د ژوند له حقیقت سره پخلا او په همغږۍ کې سا کاږي.

## شېبه د ابدیت زمانه

ساعت، ورځ، کال، پېړۍ: آیا همدومره عمر غواړو!؟

آیا ټوله هېله مو داده، چې زرېزه، مېلیونیزه... دې زما عمر وي!؟

آیا په رښتیا دا منو چې عمر دې - ولو که یو میلیون کاله هم وي - پای ولري!؟


شېبه، «شېبه» ده؛ خو په ټول زمان زیاته ده.

لویه ستونزه، د شېبې کشف دی!

یعني داچې په ټول درک او شعور او عاطفي - رواني حضور سره، شېبه کې را ټول واوسو.

دا چاره یو شخصي - عملي زیار غواړي.

نه پوهېږم څه نوم ورکړم!؟ ښایي (تسلیمي): ځان، ذهن، هیلې، غوښتنې، اندېښنې او هرڅه د خدای په نامه خوشې کول!



(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوه ترخه خواږینه پوښتنه:

آیا عاطفي مړښت شته؟

آیا انسان مینه-لورینه، په هغه اندازه، چې مادي دنیا کې یې ترلاسه کړې، یا ښایي ترلاسه یې کړي؛ همدومره غواړي؟

آیا موجوده عاطفي رابطې یا رابطو یې، هغه قانع کړی دی؟

نو لکه چې انسان (نر-ښځه) اساسا غواړي یوه داسې ذهني-رواني اقلیم ته ننوځي، چې فکر، وینا، دریځ، کړنه او هرڅه یې، د مینې له جنسه راشنه او مینه وي!

د مینې دې ابدیت ته د ننوتلو او امن کېدلو پیل، مینه کول دي!

خالصه مینه، د فکر-باور او اخلاقو، زاړه ذهني-رواني پوټکي، د انسان له ابدي برخې (روح)، لېرې کوي او سپین عقل ته د ځلېدلو فرصت برابروي!

نو د بشپړې مینې لپاره مینه وکړئ: ځان سره، بل سره (ځکه هغه هم ستا په شان روح دی) او ددې هرڅه له عاشق سلطان سره.

## ژوند د خدای د نوم رنگینې انگازې



ونه ژوندۍ ده.

ونه تن لري، صراحي اندام،

او گز گز څنې لري.

تر دې څنو لاندې دمه نیول،

سا شړل-هوسا کېدل،

او د زړه په ژبه، د ژوند بې‌متنه متن تلاوت کول: دعا نو بله څنگه وي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدایي غږ او رڼا

هغه څه چې هرڅه ترې جوړ دي!
هغه پنځونکې تومنه، چې ټول واقعیت ترې راټوکېدلای!
او موږ یې د خدایي روح په نام پېژنو.
هرڅه ددغه ستر جریان په ابدي څپو کې زوکړه کوي،
اوړي را اوړي، لوییږي، زړېږي او د ژوند او هویت تازه شکلونه،
اغوندي او غورځوي.
هرڅه ددغه ژوندي غږ او رڼا په دننه کې ژوند اخلي او ژوند لري.
ارواوې دغه ستر ابدي جریان څښي او خپل ابدیت ته دوام ورکوي.
دا د تر ټولو ژوندۍ انرژۍ په توګه، په هرڅه کې شته. له هرڅه کولای شي
را ښکاره او څرګند شي او په وینا شي.
ځان دغه ژوندي ابدي جریان، سېل او توپان ته سپارم.
غواړم دا راته فکر، وینا، دریځ او عمل شي.

## چوپتیا، د کلماتو بې شکله شکل

عشق کولای شي دغه غیر ذهني نعرې شعر کړي، ترانه یې وغږوي.
دا غږ په ټول ژوند ګډ دی.
هر هغه څه چې د خپلې اګاهۍ دننه اورئ،
د هغه سپین غږ، یو غږ یې دی.
د سیند شوږس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باد د منډې اوښښښ،

د مرغۍ چيو چيووووو...،

د جټ الوتکې غرزس،

د تالندې غړمبا،

د مېږې پر ډکو تيو، د وري د شونډو خوشې کړې ام م م...م، ريتم،

ټول د غږ له سمندره را جلا شوي بې متنه بيتونه، لنډۍ او قصيدې دي.

ژوند د غږ مجسمه سمفوني ده.

غږ د خدای دی او خدای په ټولو کې، د ټولو دی.

د فرهاد و شيرينو،

د مومن خان و درخانو،

د ليلي و مجنون،

د سياه موی و جلالي...

مينې، ددغه غږ لخوا د شعر، او سندرې جوړېدلو غوښتنه ده.

## هرڅه وس کوي، چې په ټول جوهر راڅرګند شي

لمرګلی، بادام ګل، رواشه، غرڅه، نی،

اوبه شوې وريځې،

له اوره ډکه اسماني څاه (لمر)،

بل هر يو، په ټول وس ځليږي.

وګورئ (الماس) د غره د بې‌غږه سوزنده چيغو بچی دی!

خو آيا ما انسان هڅه کړې، «انسانيت»، راوړم!؟

راځئ- حداقل دا نن- هڅه وکړو، خپل انسانيت را بربنډ کړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښځو د حقونو په اړه:

تر هغو چې يوه ټولنه کې، اخلاق يوازې د يوه جنس د پاکوالي په تله تلل کېږي، ايا ټولنه اخلاقي شوه؟

له بلې خوا: تر هغو چې جنست، د مادي امتيازاتو ترلاسه کولو وسيلې په توگه کارول کېږي، ټولنه اخلاقي شوه؟

نو:

له اخلاقي پلوه متعادله ټولنه هغه ده، چې دواړه جنسونه، د پوره ازادۍ او

مسؤوليت منلو په فضا کې، گډ ژوند اختيار او هغه وپالي.

## د خدای په خوښه اوسېدل

سترگې مې د غر او رڼا په ستورمزلي قافله سالار ولگېدې؛ ما وېل «کاش کي زه وای!»

تلويزيون کې قمرگلې د غر په اوبو، د عشق جونگړه جوړه کړې وه؛ ما وېل «ولې زما غر د خامو ختو، غرنيو کاڼو او پولادو بوی لري!؟»

لمر ټولې دنيا ته ځراغ ورکړی ؤ: «ومې ليدل، چې زه همدا اوس لکه له خپلو تيارو ډک غر، په لاپو يم.»

د فيسبوک په دړه، د ناسا اداري، د ستورمزلو ارت پلونه چاپ ؤ؛ خو زه له (شيري لارې) دومره لېرې وم، لکه د کبر شناختې چې د انسانانو شهرت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یخ وهلی دی!

ما غوښتل، دا اوس، د آرام سمندر د تل، د هغې نه لیدلې سمڅې تیارو کې، مور پسې سرګردان کب، لارښوود واوسم!

خو خبر وم، چې (ځان) پسې مې ایمان تللی!

اصلاً ما غوښتل دغه شېبه، هرځای، هر شی واوسم او په ټولو پوه واوسم!

دې شېبه کې ایله، چې په زړه راوېښ شوم. نو ما وېل:

«خدایه! څه چې تا غوښتي وي، هغه هر څه دي!»

د خدای په خوښه اوسېدل، دغه شېبه د هر شي لیدل او پوهېدل دي.

تازه مې وموندله، چې دومره مهال په لاپو وم!

او رښتیا، د خدای له خوښې پرته، هره مشغولا، ځای پر ځای ګرځېدل او پر ځان را تاوېدل دي.

## خدای په ټوله دنیا شته

«دروني ژوند- په زیاته پیمانه، زه امنیت او آرامتیا کې دننه کولم.

د هستۍ په دې توپان کې، د خدایي غږ او رڼا، ژوندۍ زده کړې، زما مورچلې وې.»

انسان چې په ټوله پوهه او درک دا ومنله او خپله کړه، چې خدای شته! نو په ټوله هستۍ واوښت.

خدای دغه شېبه، هرځای، هرچا سره شته.

د انسان د زمکني سفر او مزل ټوله میوه، په دغه پوهه بدلېدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کور، په ژوند را تاو اندام

په (ښارکور) را تاو ډبروسکرو لوخړو سره سره، سهار، پوزپیچلی، په کوڅو ور سم شوم.

په کوڅو کې د ژوند، تازه او بې مانده نغمه جاري وه! خو څه بې‌شمېره رنگینه نغمه!

اوریځ: دې ښار کې د پنځه- شپږ میلیونه انسانانو د زړونو عطر خالي دي!

او دا جوشانه نغمه په دغو خبرو جوړه او بیا په متن را ترجمه شوه:

کور، په ژوند را تاو اندام دی. لکه زما اندام، چې په دغه تراوسه ما نه پېژندلي روح، چې را تاو، غوښن اندام دی.

کور هم کرونده ده، زه هم کرونده یم او ته هم د «هغه» د ارادې کرونده یې!

د ابدیت کروندگر، همدلته، د ما او ستا دننه، او هم د اقیانوسونو په لوی وجود کې، د یوه یوه کب، د واړه وجود کروندې ته خواړه- اوبه، برابر وي.

او زموږ تمرکز په څه دی!؟

آیا ټوله ورځ د خپل جعلي، ذهني- رواني (قدرت- شهرت)، پر سر، په چنو وهلو او مداري‌گریو نه یو ستړي!؟

آیا څه چې فکر کې لرو او زیاتوو، او د زړه او روح په وینو پالو، او په زور یا رضا، په نورو ور منو، خدایي ښایست لري!؟

هو، اصلي خبره داده، چې تن په روح را تاوه کلا ده!

هاااا...ای! څه له خځلو ډک ذهنونه مو عبادت‌خلي ودرولي!!!

مننه له ژونده، چې لا هم ما ته، تا ته، هغه ته...

او د ښار دې (ژوندلارو) کوڅو کې- چې بیا بیا انساني قهر سوزولي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزوي يې، کې ځغلي او په بې‌متنه ژبه وايي:

«خدای مينه کوي!»

اوس نو تاسو ووايئ: آيا ټول د يو بل د مينې پوروړي نه يو!؟

## له خپله درسه تېښته!

آيا روان ژوند، رواني هڅې، او چارې-بوختياوې، زما له خپلې زده‌کړې تېښته نه ده؟

ټول حقيقت دادی: «خدای شته!»

آيا دغه شېبه زما فکر، وينا، دريځ و چلند، دا پوهه ځلوي!؟

فکر-پوهه هغه ده، چې خدايي حضور ويني، اوري او دې هوښيارۍ کې اوسي.

## ابديت

ابديت په شېبه کې سا باسي.

شېبه وموږه، ابديت همدا دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳٦۰ درجې لید لوری

ځان سره مې وویل؛ خبر تاسو یې هم واورئ:

څه مې چې ویلي؛

څه مې چې لیکلي،

او ټول څه چې مې تر سره کړي،

آیا په دوه توته ارزي!؟

ځکه: څو چې ۳٦۰درجې دید (لیدلوری) ونلرم، یعني دا چې دغه شېبه هرڅه ونه شم لیدلای، وربانديې پوه ونه اوسم او هرڅه ونه اوسم؛ پوهه-عقل خوار دي او په دوه توته نه ارزي!

که دا منو چې خدای شته. نو هرځای او هر وخت شته؛ نو ۳٦۰ درجې لیدلوری هم شته؛ که راویبنس شو.

## د جنت سپینه سمفوني

د غږ سپینه نغمه، چې د وجود له ناپیدا لوړو را الوزي،


د حیات اوبه دي،

چې وګړی یې په څپو سپور،

خپلو هېرو ازلي زمکو ته رسېدلای شي.

کله کله «ځان»، اورئ!

چوپیتا، ددغه غږ په ابدي سندره ډکه ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## څومره شعر شوي یو

ژوند د «شېبې» شعر دی.

څومره، چې ژوندي ؤ، هومره شعر جوړېږو.

وګورئ،

هیلې، زانې، د چینې اوبه،

او د پیغلو خندا،

تر هر نوي او زاړه شعره، زیاتې نوې او شعر شوې برېښي.

## شېبه د ژوند زمان

«ناڅاپه مې احساس کړه، چې ژوندی یم!»

آیا کله داسې احساس در پېښې شوی!!

داسې احساس چې پېښ شي، بل څوک په سړي نه پوهېږي؛ ځکه نو ډېر ژر هېرېږي!

## د مکان، زمان هاغاړه کلی

وایي «تجربه تل تر پیسو مهمه ده.»

ځکه چې «د زده کړې یوازینۍ لاره، عمل یا تجربه ده.»

او دا خو منو، چې د روان مادي- ذهني ژوند اساسي هدف، زده کړه ده.

د اروا سرنوشت دادی، چې په مادي جامو کې ځان وپېژني او دې سره به، د مکان- زمان هاغاړه، خپل لېږې کلي ته ستنېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انګیرنو او باورونو روح

ژوند په بې‌متنه ژبه غږېږي.

ګلان، چنارونه،

وېالې، سیندونه،

مچۍ، غرڅې، همالیا او بابا غرونه،

اطلس او نور اقیانوسونه،

لمر او ستوري... دا د ژوند د ناتمامې ژبې، مجسمې کلمې دي.

آیا زموږ ژبه او نورې ژبې، او په ژبو سپړې پوهې او انګېرنې-باورونه، دومره روح لري، چې د «کاکا مراد» کونډې، درد ته د خوښۍ جام ور په خوله کړي!؟

## ژوند پر سواد مشر

کله کله ښه ده ځان نه وپوښتو:

دا فکر چې را سره دی،

دا دریځ چې ما نیولای،

دا وینا چې په خوله مې راغله،

او دا کړنه چې زه یې کوم،

آیا د یوه لمرګلي (ګل‌افتاب‌پرست) د یوه دانه زړي برابر ارزښت لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



## قهر د ذهن سرطان

عارف يې وپوښته:

«قهر څه شی دی؟»

هغه ډېر ښکلی ځواب ورکړ:

«قهر هغه سزا ده، چې يو وګړی يې د بل د غلطۍ په خاطر ځانته ورکوي.»

په رښتينې معنا «قهر ذهني سرطان دی!»

او ددې سرطان درملنه، سم تشخيص او سم قضاوت دی. هغه داچې، ښه او بد، ښکلا او بدرنګي، او ګناه، ټول ذهني-رواني مفاهيم دي.

## ډبرين احساسات-ډبرين ذهنونه

اوښکې د هر زړه زده دي؛ ولو که د غوايي زړه هم وي!

وايي د امريکې سره پوستي اوسېدونکي، کله چې هوسۍ ونيسي، نو تر وژلو او د غوښې له پخولو دمخه يې، د خپل باور له مخې، ځانګړي عبادتي مراسم نيسي او بيا لاس په دعا، له هوسۍ عذر غواړي او د زاريو په ډول ورته وايي:

«موږ د خپلې بقا لپاره، ستا غوښې ته اړتيا لرو، نو څکه ژوند درنه اخلو!»

خو دلته احساسات او ذهني پوهې دومره ډبرينې دي، چې وينه بهول داسې ايسي، چې ته به وايې، سور رنګ دی، او عقلي ماشومان، د رسم کارخانګي ترسره کوي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بت شکن کار دننه دی

لړې مې پر شخصي طبیعت ډېرې ښې لګېږي.

دا ډول فضا، له طبعیت او هستۍ سره د یو ډول حل کېدلو احساس راکوي.

یو مهال، چې پاکستان کې اوسېدلو، نو کله به د طبیعت د ځواکونو تعاملاتو داسې لړې، پر فضا را خورې کړې، نو زه به مخ په پټو ووتم او د چوپتیا لوړه چیغه به مې پرېښووله، چې وجود دننه داسې سپینه غوغا جوړه کړي، چې د ټول تاریخ خیرن تختونه او پاچاهان مې، په لړزه راولي.

## د رنګینو فکرونو سمفوني

تر ټول پنځېدلي هنر لوړ شهکار پنځېدلای شي!

ژوند یوه ګډه سمفوني ده.

تنوع؛ تر ټولو لوی ښایست جوړول دي.

ښه، که انسانان، له خپلو سرو، شنو، ژېړو، نارنجي، بادامي، پسته‌یي، طلایي او سل‌هاوو میلیونو نورو فکري رنګونو سره، یوبل سره په روغه کې واوسي، نو دا کار به داسې ګډه او ستره سمفوني جوړه کړي، چې د تر ټولو پنځېدلو شعرونو، کیسو، نقاشیو، مجسمو، لوړ هنر به مو ژوند په واقعیت بدل شي.

د رنګونو دا میلیوني بڼ، خپله جوړولای شو: باید د یو بل د فکر، خیال او انګېرنې له تفاوت سره، روغه وکړو.

سوله، د بل په سر، فکر، ازادۍ او مال، کار لرلو راڅخه، رټلې!

زموږ او سولې، ډاډ و خوشحالۍ ترمنځ، د فکرونو بې شکله دیوالونه ولاړ دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کشف

«خواشني او خفگان، آشنا ځرخه وه، چې ډېرى مهال يې زه له هرڅه په يوه تش ژوندانه کې ډوبولم.

له زمان هاغاړه آواز يې ما د زړه له لارې اورېده.

داسې احساس را پيښېده، چې ښايي څوک زما له حاله په خبرېدلو سره، الهام ترلاسه کړي او د بې پولو خدايي سرچينې په لور خپله لاره ومومي!»

## د شوپرک زړه عطر

«پرته له قهره بل دښمن نشته.

کله چې قهر موږ تر کنترول لاندې راولي، بيا هر ځای دښمن لټو!»

که قهار قاتل دا درک کړي، چې حتا د يوه شوپرک زړه هم، د خدای د نوم له عطرو ډک دی، بيا به هره وسله بېرته د اهنگر ځټکانو لپاره خامه وسپنه شي!

## د ليدلو، پوهېدلو او اوسېدلو دنياګانې

د غړ او رڼا مريدان، چې د روح سفر له لارې، د مادې او انرژۍ، فضا او زمان جهانونو له موانعو واوړي، د (ليدلو، پوهېدلو او اوسېدلو)، معنوي دنياګانو ته رسېږي.

دا هغه څه دي، چې د هر روح خدايي برخليک جوړوي.

دې سرنوشت کې د راوښېدلو لپاره، يو مېين زړه په کار دی.

داسې زړه، چې پرته له خدايه، بل هېڅ ونغواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مینه بې جوړې ښېګڼه

روح، تر زمان مشر دی؛ روح خدایي دی.

مینه باید ورسره وشي.

زمکه، یوازې د انسان پالنتون نه ده!

زمکه د روح پالنځی ده.

او زده کړه، له هر هغه څه سره مینه کول دي چې
خدای پیدا کړي.

پرته له توپیره مینه وکړئ.

## د ژوند ارتفاع وګورئ!

ژوند د ابدیت د مادې اتوم دی،

چې د واقعیت په رنګینو جامو کې راڅرګند شوی او بیا بیا راڅرګندیږي.

## د خپلې بېسوادۍ ننداره!

غږ زما د زده کړې ژوندۍ سرچینه ده.

غږ تازه دی. په تېره هغه بې‌متنه غږ چې په دروني حواسو یا د زړه په غوږونو یې چې اورو.

خو زما ذهني زده‌کړه او انبار کړې پوهه، له ذهني متنونو را چاغه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو:

که زما دغه ټول چاپ شوي او ناچاپ اثار یوازې دومره وکولای شي،
چې د چا پاملرنه د غږ تازه او ابدي جریان ته- چې د خپل وجود له تله
یې،
د یوې بېمفهومه نغمې په بڼه؛ دغه شېبه هم اوربدلای شو- واړوي،
لوی کار به شوی وي!
خو یادونه کوم، چې د (پوهې، ازادۍ او عشق) دغه ابدي نغمه، نه په متن
کې شته، نه په وینا کې او نه په ذهني مکاتبو او باورونو کې!
خو دې سره سره، دا ټوله ذهني پوهه او ژبه، د حیات له دغه روده، راوتلې.
یوازې عاشق زړه په کار دی.
عشق د ټول پنځ، پلار دی.
هیله ده، چې زما پر دې اعتراف تاسو هم باور وکړئ!
او ما د غږ او رڼا د ابدي بهیرونو یو لاروی وګڼئ!

## غږ سندره، او کار نڅا

نږدې شل کاله دمخه مې وېل «ارمان مې دادی چې:
هره وینا سندره او هر حرکت/کار، نڅا شي!»
او تېر کړی ژوند او د پنځ پر ډګر کار، دې موخې لپاره دوامداره تمریني
چارې دي.
نو هېڅ شی په غم کولو نه ارزي! دا یې عمر تللی، ځواني خزان، ځېره-
بدن، هیلې او هڅې خزان!

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا په غم کولو ارزي!؟

آیا دا بدن زما دی، چې اوښکې پرې توې کړم!

بدن «ځان» نه دی او نه ارزي په غم کولو.

سرنوشت مو دادی، چې بدن د مکان-زمان اقلیم لنډمهاله جامې وپېژنو او پخپل ابدیت راویښ شو.

## جنت خپله کرونده

وایي: جنت، د هر وګړي د فکر، باور، دریځ او کړنو، انعکاس دی.

موږ هغه څه ته رسېږو، چې په ټول وس ورته تلاش کوو.

د قهر بدل قهر دی، د مینې مینه ده...

دا د ژوند غوځ قانون دی «څه چې کرې هغه به ریبې.»

هر وګړی د خپلو روانو او فردي تجربو له لارې مومي، چې جنت یې د عمرونو کرونده ده.

## زمکه د خدایګوټو قتلګا

ټوله هغه هستي، چې ذهن او حواس یې پېژني، او ورباندې یقیني دي، د زیږون، ځوانۍ، زړښت او مرګ په څرخ کې اوړي را اوړي!

او زمکه د مادي-ذهني خدایګوټو د بقا لپاره لویه قتلګاه جوړه ده!

خو روح شته؛ ځکه دا د خدای دی.

ماده، ذهن، عاطفه او حافظه، مکاني-زماني کالبونه او لباسونه دي.

خو د انسان دا مادي-رواني هستي، د ذهني نفسونو (قهر، شهوت، طمعې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تړلتیا او ځانپرستۍ) خوراک دي.

خو ذهني مدرسین، د زمان د ها غاړې او دا غاړې فاتح، د نظم، مثال او کیسې، د وچ شوي کتاب یا کتیبې شرحه داسې کوي: «آسمان ته لاره زما په قواله ده!»

## دروغجن ژغورندویان

وایي: «څوک هم اړتیا نلري، چې و دې ژغورل شي او خوندي دې شي. بلکې خلک له خپل ځواکه د ګټې اخستلو پوهې ته اړتیا لري.»

## زمکه، ذهني-رواني تابلو

«هرڅه باره کې چې فکر کوئ، هغه دباندې دنیا کې راښکاره کېږي او واقعیت ومومي.

خو له دې سره سره، هغه ډېری مهال، د موږ د انتظار خلاف، راڅرګندېږي.»

## وګړی، د خپل فکر او عمل کرونده!

«هره لاره هماغه ده، چې لاروی یې ځانته جوړوي!»

دې وړې جملې ته په دقت کولو سره، وګړی دا مومي، چې هرڅه به پخپله د ځان لپاره تر سره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کار سره وګړی په خلاق موجود بدلېږي، او هېڅمهال، د خپل ژوند او برخليک په خاطر، بل وګړی پړ نه ګڼي.

## خدای دا اوس شته

«هېڅمهال د تېرې زمانې بندي مه اوسه! تېره يوازې درس وه، نه تلپاتې بند!»

## هر څه دا اوس

ژوند، د خدايي ارادې، ژوندی شعر دی.
رنګين طبيعت د ابديت لويه سمفوني ده.
د ژوند او ژوندو خدمت، لويه ښېګنه ده.

## زړه د خدايي ښايست تابلو

ټول ژوندي مينه حس کولای شي.
مينه ژوندی مکتب دی.
آيا د جګړې ټول داستان، د يوه ژوندي په زړه کې د خدای د ورک نوم د ټکان له ښايست سره برابرېدلای شي!؟




(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدای چې لرو، وېرې ته ځای نشته

زريني کرښې:
«په ټول ژوند کې مې ستره اندېښنه دغه وېره وه، چې «خلک څه وايي؟»
تر هغو، چې وګړی، ددې وېرې په سارت کې دی، نو بېځايه لګيا دی! هېڅ آبادي او لاسته راوړنه يې خپله نه ده!
نو وګړي پرېږدئ خپلو کارونو ته، تاسو ته خپل کارونه لاره څاري.
راوينښ شئ! تاسو د هيڅا کاردستي نه ياست. تاسو د خدای ياست. نو هڅه وکړئ، چې د خدای وړ واوسئ.



## مينه د هر څه ځواب

مينه د ټولو اړتياوو ځواب ده.
آيا غواړئ له ټول ژوند او ټولو ژوندو سره پخلا او دوست واوسئ؟
«مينه» پخپل فکر، پخپله خبره، پخپل دريځ او پخپل چلند واړوئ!
مينه، د هر څه ځواب ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خرد او حکمت په رود کې هستوګنه

هر وګړی، پخپلې طبیعي چټکتیا سره، د ابدیت لاره تعقیبوي. بېړې ته هېڅ اړتیا نشته. هر وګړی، د حکمت او خرد له روده هغه څه ترلاسه کوي، چې دغه شېبه اړتیا ورته لري.

خدایي سړی وايي: «د خلقت هرڅه پخپل ځای دي؛ اوس دغسې ده، او بل وخت به دغسې وي.»

## د هرچا خپل خدای؛ یو خدای

انسان د خپلې اګاهۍ د وزرونو په پراخوالي، حضور لري.

او له خپل حضوره، د خپلې ویښتیا په اندازه، اګاه دی.

## پوښتنې زورورې تورې!

د اروا غوښ برخلیک، معنوي وده ده. دغه راز په غوښه توګه باور لرم، چې «خدای شته.»

نو خنډ له کومه شو؟

نو بیا ولې د ځانپېژندنې په «الف و بې» په ځنبېدا مخته ځو؟

ولې د ذهني - متافزیکي پوهې په اسارت کې لوېږو؟


ښايي خنډ موږ خپله واوسو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي له خپلې معنوي ودې ويرېږو!؟
آيا زموږ اند و باور و نظر،
اخلاق او د پوهې ټوله پانګه،
د ژوند عطر لري؟
نه چې دا ټول اضافي بارونه واوسي!؟
آيا په دې پوهېږو، چې ولې د «ځان» او خدای تعالی - چې مطلق حاضر دی - له پېژندلو، غافل یاستو؟
کله کله، پوښتنې د هغو تیارو لپاره ځواکمنې تورې دي، چې پر موږ را تاوې شوي دي!
یو ځل یې وآزمويئ. په یاد مو دي، چې فېلوسوف سقراط د خپلو پوښتنو مخلوق ؤ.

## له عطرو جوړې کلمې



خپلو وېناو ته به پام کوو!
ایا هغه کلمې چې په خوله راوړو، په یوه ډېر ساده ګل اوښتلای شي!؟
که ذهن، وینا او دریځ مو د ژوند او ژوندو له مینې ډک وي،
شیبه شیبه د داسې ګلانو د باغونو خدايي عطر،
ټول ژوند ته ډالۍ کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زاړه‌ذهني کميسيونه

ژوند نوی دی؛

لکه ددې هرڅه خدای چې تل دی.

نو له زړو ذهني لباسونو-عادتونو به راووځو، چې دا له عجايبو ډکه نوې هوا وڅښو!

## د ورکې وهم

ژوند، تفريح‌ځای نه دی.

ژوند د اسمان‌مزل، د زده کړې مدرسه دی.

واگې خدايي ارادې ته وسپاره او ټول ژوند سره د مينې له دريځه، خپله فردي لاره وهه.

ژوندمزل پر مهال، له هيڅ ستونزې، درد او سختۍ، مخ مه اړوه.

خدای شته! نو هيڅ راز ستونزې او سختۍ پر مهال، د ورکې وهم ته لاره مه ورکوه.

باور ولره، چې شيبه هم بې خدايه نه يې!

او هغه خالصه مينه ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژوند خزانه

ژوند څه دی؟

«شېبه» کشفول او د هغې ژوندی جام څښل.

ژوند څه دی؟

تاسو یوه یوه سره، هغه هم دغه شېبه، پرته له څه مدعا او مقصده مینه کول.

زړونه مو د مینې او لورینې له عطرونو ډکې کروندې اوسه!

## غرونه، مینې فریادونه

غرونه، د غېږ لوړ اندامونه دي.

ښايي غرونه، د هغو بې نومه مینانو د خالصو زړونو دغه آه و فریاد وي:

«در سره مینه لرم!»

## مینه ورکول

زړه مې ټولې هستۍ ته تنګ شو!

غوښتل مې، ټول په خپله غېږ کې ونیسم؛ مچ یې کړم او یوه یوه ته ټول زړه ورکړم!

که داسې نه وم، نو هستي مې نیمګړې ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه ورکول په مکان او زمان کې، د روح د تبعید یوازنی دلیل دی.

روح د خدای دی او پر خدای زښت ګران دی.

روح راغلی، چې خدایي خدمتګار او د هغه د ارادې ژوندی همکار واوسي.

اه، کلمې یا لنډې دي یا کږې؛ د مینې لپاره پوره څېره نشي کېدای!!

خاموشي، د کلمو نیمه کار، بشپړوي.

## د آسمان امتحان

داسې وګړی، چې په ژوند دې هېڅ ناکامي او هېڅ درد نه وي لیدلای، ښایي مور نه وي زېږولای!

خو ډېر ناکام بیا هغه څوک دی، چې بل ته یې سترګې نیولي، چې هغه دی کامیاب او ښاد کړي.

متاسفانه، چې زموږ پر انساني جغرافیې-تر ډېره د ذهني معلولیت دغو اخلاقو، سیوری را غوړولی!

زمکه د آسماني مزل زده د کړې مدرسه ده. هر زده کوونکی به پخپلو نومرو، د یار رڼاکلي ته د ورتلو، نومره ګټي!



## ونه ژوندی ده

ونه، په پښو ولاړ شنېلی؛

ونه، د میوې، معلق دوکان،

ونه، د رنګونو کرونده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه د مرغۍ ابۍ، د جونګړې ولاړ پاېتخت.
ایا حق مو دی ددې شنو څښو، غاړه پرې کړو!؟

## ونې سرودګرې

د ونو په ویدو څانګو کې د پسرلي پټه نغمه، تازه تازه لنډۍ یا هایکوګانې دي!
د ونو ښاخونو سره څو شېبې یوازیتوب او د ژوند د بې‌شکلۍ ننداره، د غږ خاموشي را باندې واوروي.
ابدیت، ددې غږ، رنګین او بې‌پایه سفر دی: «خدای شته!»

## موږ نیمه انرژي په قمار وهلې!

ورځ تر بلې په دې راوښېږو، چې دنیا یو کلی دی.
خو نفسي ذهن، په رواني لوبو زړونه تړلي او نه پرېږدي، چې وګړي روغه کلیواله پېل کړي!
حیران یم کله چې اورم، دې هېواد یا هغه هېواد،
دې ډلې یا هغې ډلې، بشري پانګه، د زمکې ددې یا هغې ګوښې د دوزخ ګرځولو لپاره،
په بم، په راکټ، په طیاره او په توپ ورکړه!
بشر که د انسان (د سر، فکر او مال) په خوندیتوب باور راوړ، ښایي نیمايي نوره انرژي، د ژوند، خوشحالۍ او ودې پر مارکیټ ورزیاته شي!
بیا نو زموږ زمان-لړ تر لړه-دوه چنده کېږي. یعني هر ورځ به دوه ورځې، هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېاشت دوې مېاشتې او هر کال به دوه کاله، غوړېږو او د مادې او معنا ترمنځ واټن به لنډو!

اوس په دې فکر وکړئ، چې ولې نه غواړو، خپل زمان پراخ کړو؟

## ځوپوښتنې:

ایا ذهن کې راټوله عقلي-رواني زیرمه، ژوندۍ ده؟

ایا هغه څه، چې حافظه پرې ډکه ده، ژوندي دي؟ سا لري؟ سا وېستلای شي؟ ایا د ابدیت له جنسه دي؟ له مرگه خلاص دي؟

د «حقیقت» عطر ترې حس کېږي؟

آیا هغه څه، چې زموږ ژوند او ټول عمر ورته وقف دی، د مرگ له پېښې ازاد دي؟

نو موږ په څه نازېږو؟

ښه ده ووایم: زه په څه نازېږم؟ څه امتیاز لرم؟

په ذهني پوهه، عادت او اخلاقو ډک انسان څنگه ځانته ددې حق قایلدلای شي، چې د بل، (ژوند، ازادي او خوشحالي) ترې واخلي!؟

په رښتیا، چې خپلې بېسوادۍ باندې راوېښېدل، روغه اگاهي ده.

بیا وایم: ډېر څه د ویلو لپاره نشته!



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حقیقت د ارادې ژوندی غږ

ژوند پر تمدن مشر دی.

یوازې رښتیني ژوندي وګړي دا حس او درک لري، چې «ژوند» له هر راز تېري او تعرض مصئون دی.

هر هغه فکر، فلسفه، ارمان، اخلاق او باور، چې د ژوند پر نسل، د مرګ دوا شیندي،

د ژوند له خالق او د هغه له ژوندۍ ارادې څخه، چې ځان د بې‌شمېره ژوندو د دوام په بنه ښيي، بېګانه دي!

## مبین زړه، د وجود راه بلد

انسان، خپله ورکه پسې پل ږدي!

تر هغې نه قرارېږي، چې ورکه ځان کې کشف کړي.

له انسانه «ځان» ورک دی.

هغه ځان، چې د ابدیت له بې شکله غږ- رڼا سمندره را جلا شوی.

دغه سمندر وجود ته لنډه، اسانه- په شیبه کې لاره ورغلې: مبین زړه.

بې‌قید او شرطه مینه، د هر کار کلي (کونجۍ) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په عشق اوښتل

څېره، مادي- ذهني لباس ده.
څېره هغه وخت هويت کېدلای شي، چې پر کالبوت او ذهن سربېره،
د عاطفې، احساس، روان او په تېره بيا روح، ننداره ورکړي.
که خدای کول- زه او تاسو، دې چارې ته ور پر لاره يو.
بايد په مينه واوړم!

## انسان د عاطفي غلاوو ډاکو!

وګورئ، طبيعت ټول لوڅ ولاړ دی. د طبيعت ترمنځ، د عاطفي غلاو به مو نه وي اورېدلي!؟
خو انسان، چې د عقل دوزخ واغوست، بيا د «ځان» پرضد په توطيه شو.
پوهېږئ، چې ولې متمدن انسان، د عاطفي غلاوو ډاکو شو!؟
کله يې چې عاطفي غوښتنې له تعادله واوښتې!

## وګړي، د حقيقت دوداني بېلابېلې کړکۍ

وايي: «د حقيقت په اړه مهم ټکی دادی، چې هغه ژوند ټولو لپاره په پوره اندازه برابروی. موږ له هغه هغومره ترلاسه کوو، چې له عهدې را وتلای شو.»
نو وده او نه وده، زموږ په ليدلوري او اګاهۍ پورې تړلې دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حقیقت کتاب

جالبه مې وموندله. وايي «هر هغه کتاب، چې حقیقت سره تړلی دی، ولوله!»

او دا کشف، د هر وګړي خپل کار دی.

مه پرېږدئ، بل څوک ستا لپاره پرېکړه وکړي!

هڅه وکړئ، زړه سلطان او ذهن يې مريې کړئ. بیا چې څه کېږي و دې شي!

طلايي زړه د خدای منفرد کور دی.

## د ژوند سمفوني

کلی،

اوړی،

د وږو تنده،

او د ويالې را جلا کېدل لښتي ته او بیا د دانې غږ، چې بزګر يې د بېل په چړې برابروي،

او د اوبو شړړړړس، مخ په غنمو،

او په وله کې ناستې مرغۍ چونس، چې

د غنمو د تندې ماتيدلو

او د اوبو د سپېڅلې نښې شکر په کې عطر ايښي.

او ناڅاپه د ابو (مور) غږ: «انوره! د مکتب دې ناوخته کېږي!»

ژوند، هره شېبه تازه سمفوني ده، بايد په ټول وجود وڅښل شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هستي، د رزم ستر ډګر

د هر چا غاړې ته خپل فکر، وينا او چلند، ور لوېږي.

ختيځ فرهنګ دې ته «کارما»، وايي. او معاصر معنويت يې د «حيات قانون» ګڼي.

ددې جګړې پايله، بې‌قيد او شرطه مينې ته مخه کول دي.

ځان سره مينه، «بل» سره مينه،

او د ټولې هستۍ او ټول ژوند پنځوونکي سره مينه، د فردي ودې مدينه ده.

## زمکه، د غږ ناتمامه سمفوني

وګړي خپل فکرونه، د نظر شعرونه او د باور، د غلو- دانو، ډوډۍ خوري.

## د آزادۍ غږ

ټول وګړي ازادي غواړي، خو ډېری وګړي نه پوهېږي، چې «آزادي»، په ځان کې څه لري!

ازادي يعني دا چې د خپلو ټولو افکارو، ويناوو او کړنو مسئوليت په غاړه واخلو!

نو آيا ازادي لرل، غږ په اوږو اخستل نه دي!؟

يوازې مينن او په زړه خلاص وګړي، د ازادي لرلو وړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له سمڅې راوتل

د ځان لپاره تر ټولو لويه کړنه، له هغې سمڅې راوتل دي، چې خپله مو پناه په کې اخستې!

د غږ او رڼا استاد خپله تجربه داسې بيانوي:

«له هغې سمڅې، په زړورتيا راووتم، چې خپله مې په کې پناه اخستې وه.

کله چې روح د مينې په لوړو مرتبو، خدای ته رسېږي، له مسئوليت سره مله ازادي ترلاسه کوي.»

## وېره که عشق؟

وېره، ذهني ناپوهي او عارضه ده.

خو دا چې له دې ووېرېږم، چې د بل يوه د فکر، خرد او پوهې څپې به زما د فکر، باور-عنعنې ديوالونه راونړوي،

د وېرې سرطان دی.

زړه چې له خدايي مينې ډک وي، وېرې ته هېڅ ځای نه پاتې کېږي.

دغه نوی او تازه سهار مو له رڼاگانو، مينې او ذهني غوړېدنې سره مل اوسه.

## د مينې ناتمامه ښايست

عمر د آسماني کور په لور پرواز لپاره لنډه دمه ده.

آيا تر مينې بل غوره څه شته، چې د ژوند لنډکي خوب کې،

زموږ ذهن، عاطفې،

روان او روح ته ښايست ورکړي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مادي عقل سترګې

انسان، خپل مادي عقل، پر هستۍ د واک لرلو لپاره ځانګړی امتیاز ګڼي.

ژوند او د ژوندو رنګینه دنیا، د انساني عقل تر چړې لاندې، انسان لپاره د خوراک، پوښاک او هوسونو د پوره کولو، په کمپیوټري فابریکه، بدله شوې ده!

ورځ تر بلې ځاروي، الوتونکي-حتا خزندې (چینایي ټبر کې) د انسان د غاښو چنجي ګرځېدلي او لا ګرځي!

یو ځل یې له یوه بل دریځه وګورئ: دغه نن به څومره ژوي، کبان، الوتونکي،

د اور په دوزخ،

د انساني اشتها لپاره،

عطرو مزه، جوړه کړې وي!؟

اوس دا ووایئ: معصومیت په کوم یوه کې دی: د ژوند د غوښنو سوزولو په عطرو کې، که په یوه ساده-رنګین شوپرک کې!؟

زه ستاسو پر سپینو زړونو باور لرم!

په یاد ولرئ! زه ویجترین نه یم او نه وایم، چې اړتیا پر مهال دې غوښه نخوړل کېږي! زما اشاره او ګوتنیونه، انساني هوس ته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مینه روزي

باور وکړئ، د ژوند ټوله محتوا داده، چې زه تا سره څه کوم او ته له ماسره څه کوې؟

نو څه مې چې پر ځان لورېږي،

پر تاسو یوه یوه یې ولې ونه لوروم!

زما یوه یوه انسانه!

مینه مو روزي شه!

## د غږ او رڼا بچیان

تیارې مې روح را ځپي، زړه مې پر رڼاگانو بایللی،

د کلي لمرین پسرلي، او د خدایي رڼا ښنګلو،

پر بدن او دروني حواسو را چاپېرېدلو،

روح را تازه کاوه.

موږ د خدایي غږ او رڼا کهوال بچیان یو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## سکوت، د پوهې سرچینه

سکوت، د ټولې پوهې، له ذهني کېدلو د مخه، وضعیت دی.

یوه شېبه یې په خپال کې راوړئ:

یوازې یاست؛

د یوې ښکلې منظرې اړخ ته خاورینه لار باندې پلی روان یاست.

یو ځل نظر پورته ځغلوئ.

له دې سره، د خیال په کالبوت کې،

د هغه وړاندې، لوړ ولاړ خدایګوټي د مادي تنې دپاسه ودرېږئ.

اوس غوږ شئ.

ایا پرته له سکوت او خاموشۍ، څه غوږ ته درځي!؟

ځیر شئ! هر څه په سکوت کې دي. بشري پوهه، مکاتب، طریقې، ټوله معنوي پانګه،

د سکوت په فصل ډکه ده.

سکوت، د هر مکتب، کتاب، کتیبې، تمدن او فرهنګ غیر مادي- ذهني، حالت دی.

## د ژوند قدیمي ښوونځی

ژوند- په هر وضعیت او حالت کې- د زده کړې ژوندی ښوونځی دی.

حتا ناروغي- چې هېڅوک یې غوښتونکي نه دي- ددې فرصت برابر وي، چې موږ د ژوند په قدر پوه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند قدیمي ښوونځی او ارواوې شاگردانې دي.

خدایي عشق ژوندی کتاب،

او زړه د عشق لرغونې کلا!

عظمت به نو بل څه وي!

## دنیا، رښتیا شوی خوب

«هر ارادي بدلون، ددې لپاره چې دباندې رامنځته شي، لومړی باید زما دننه پېښ شي؛ لومړی خوب، بیا واقعیت.»

دنیا د زما او نورو د خیالونو او لیدلو خوبونو، مکاني-زماني حالت دی.

## هولوکاست او عقل

څه فکر کوئ، که اډولف هټلر، د واک نیولو په اوله ورځ، په هېره اوښتی وای، هولوکاست یا د میلیونونو یومخیزه وژنه او د اور په بټیو کې سوزول به-ولو که په هره پلمه ؤ-پېښ شوې وای!؟

قتلونه، له انساني عقله راوځي!

نو داسې عقل-ولو که هر ډول شعار په خوله ولري-نغد دوزخ دی.

ایا غوره نه ده، یوځل دا خپل راته گران او پر زړه، حواسو او روان واکمن عقل، له دې نظره وگورو، چې د بل انسان (سر، ازادۍ او گټو) ته خو به، تریخ نه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library




## پسرلی

موږ له نور ژوندي نسل او ټول ژوند سره، د پسرلي په لور لاره لنډو!

پسرلی، یعني د ژوند تر ټولو لوړ شرنګ و شرونګ!

پسرلی، یعني ټول ژوند به په تر ټولو ښایسته شکل، د بدلون، نويوالي، او تکامل نغمه به غږوي!

ایا موږ- د یوه وګړي په توګه- خپل زړه، ذهن، احساس او د عاطفې کرونده کې، د ژوند داسې تازه او نوې نغمې ته د راټوکېدلو هڅه کړې: اورئ، د طبیعت پسرلی سخت را نیږدې دی!



## زه، ته، هغه؛ ټول وړونکي دي

غواړئ یو یو وړونکی وواوسئ؟

راځئ یوازې خپل زاړه،

بې کاره،

بې ګټې،

له کاره لوېدلي،

عبث او خوسا،

افکار، انګېرنې، عادتونه، او ګروهې،

داسې لېرې وغورځو، چې پرته له ژوند، ښکلا او مینې،

بل هېڅ شي ته ځای پاتې نشي!

وینئ، یو یو وړونکی یاستو؛ خو چې وغواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شېبه‌شېبه‌نخښېدل

هر وګړی، ځان په لور روان دی.
مورږ، شېبه شېبه، د خپلو فکرونو-باورونو،
خیالونو، هیلو، غوښتنو او کړنو،
درمند ټولو!
یعني، مورږ شېبه شېبه،
«ځان»، پنځوو!
دا د حیات نه بدلېدونکی قانون دی.

## دنیا، د غږونو ناتمامه خزانه!

خپلې شاوخوا چوپتیا ته وګورئ!
ددې ظاهري چوپتیا شا ته څه ګورئ؟
د دنګو ونو په رګونو کې د ژوند روانه وینه-پخپله بې‌ژبې ژبه،
څه په خوله لري؟
هغه چنجیان، چې زمکې ابې تر لمنې لاندې یې کورونه جوړ کړي،
د کوم غږ په زور ژوندي دي؟
او:
هغه ارواوې، چې (زما، ستا او بل)، په تن کې دېره دي،
څه غږوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروا پر مکان او زمان مشره ده او له خدایه غږېږي.
ایا کله مو ددغه اصیل او ابدي ځان، بې‌شکله متن اورېدلی دی؟
ښایي شپه او د فزیکي حواسو او ذهن خاموشي،
یو وړیا فرصت وي، د ځان د خالص غږ اورېدلو لپاره.
نو ټول د «ځان» په لور!

## ټول ژوند، یوه ساده جمله

چې رښتیا شي، له دومره لیکلو سره سره، اوس هم د یوې لنډې، ساده مرغلرې جملې، د پنځولو په هڅه کې یم!
د وجود له ناپېژاندو ژورو، ددغې جملې عطر، پرلپسې اورم.
خو ذهن تر اوسه، د حکمت د جنس، دغو خالصو کلمو،
هندسي کولو هنر نه دی خپل کړی!
تخلیق تر ذهن ډېر مشر دی.
ذهن، خپلې د بې‌سوادۍ پارچې،
د لیسانس، ډاکټرۍ، فیلسوفۍ، اکاډمیسنۍ او راز راز پوهیالۍ په نامه،
د تاریخ مړه موزیم کې ودرولي.
تمدن د حقیقت د تېرې ورځې نمایشنامه ده. خو د حکمت جمله پر لاره!
دا جمله یو طلایي زړه غواړي. داسې زړه، چې د ژوندۍ خدایي مینې، رڼه چینه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حال د روح زمان

څه ښه وايي:

«روح تل په جاودانګۍ کې هستوګن دی. روح تل په حال زمانه کې اوسي او هستي يې هم ابدي ده؛ ځکه چې خدای ورباندې عاشق دی.»

نو خپله ورځ په دې بنسټ ورغوئ!»

البته هغه د رحمان بابا شعر هم دې ته ورته معنا تداعي کوي:

«دا دنيا ده خدای له عشقه پيدا کړې

د همه‌و مخلوقاتو پلار دی دا.»

# متن، د خيال ذهني ننداره

شاوخوا انبار کتابونو ته مې وکتل او په زړه راوګرځېدم «څومره متنونه، چې وکښل شول او کښل کېږي به؛ خو زياتره يې ځي، کتابوتونو او موزيمونو کې ذخيره کېږي او پسې ويدېږي!»

ننني انسان، که ميليون کاله عمر ومومي او شپه ورځ لوست ته کښېني، نو د لوست دا پنډ انبار نشي خلاصولای!

نو: متن بايد وزيېښل شي.

بايد د غږ آهنګ دباندې راووځي.

متن بايد د خيال رڼه ننداره شي.

متن، بايد ژوندی جنس واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د یوې تکرار خبرې، وینا او فکر، د بیا راوړولو حق نلرم.
متن، ایجاد او نویوالی دی. لږ تر لږه د شنو غنمو، وربشو، جوارو،
سرو منهو، انارو
او د چینې د اوبو، ارزښتي بیعه باید له ځانه وښیي.
یا هو!

## معنوي آزادي

چې رښتیا شي، وګړی داسې ازادۍ ته اړتیا لري، چې په ټوله خدایي هستۍ کې ازادانه ولاړ شي او راشي او دا معنوي ازادي ده.
او دا هغه مهال دی، چې انسان له خپل کوچني «زه»، څخه ازاد شي.

## هر یو خدای په لور مسافر

څه جالبه یې ویلې:
«د خدای په لور سفر، د ژوند حقیقت دی.
په بل عبارت؛ دا یو سفر نه؛ بلکې روانه تجربه ده!»



(c) ketabton.com: The Digital Library



## جګړه د ذهني سافت وير ترشح

پر تلويزيون، دويمه نړيواله جګړه کې، د ستالين پر سره وطن، د نازي پوځ له غروره ډک مارش او بيا د مسکو پر سر، تاريخ‌سازه جګړه ګورم!

دغه شېبه په زړه راتېر شول:

دا ولې هر انسان ځان وسله‌وال او «بل»، بې‌وسلې غواړي!؟

ځواب کېدلای شي دا وي:

هر وګړی، د «سر، ازادۍ او ګټو»، خونديتوب او د خپلې خوښې ژوند غواړي؛ چې بايد يې وغواړي!

وسله، د مادي ذهني شوې بڼه ده؛

کنه وسپنه، يا د مادې هره بله بڼه

موټر، الوتکه، کښتۍ، سپوږمکۍ... او د اسانتيا هره بله وسيله کېدلای شي!

نو څه شی بايد بې‌وسلې شي؟

ذهن بايد د بل انسان د «سر، ازادۍ او مال»، له قصده لاس واخلي. امن همدغه دی.

نو لکه، چې ټوله جګړه او د زمکې پر مخ ټولې شوې، کېدونکې او را رواني بدرنګۍ، له همدغه ذهني سافت‌وير نه را وتلې!!

## هر وګړی جلا ګل

ژوند، د خدايي ارادې، بې پولو باغستان دی.

هر ژوند او ژوندی، جلا ګل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس يې اندازه ولګوئ؛ دغه ستر باغستان کې، چې انساني عقل او حواس يې ډېره وړه برخه،ويني او پېژني،
څومره ګلان، سا کاږي؟
که موروثي ذهني ديوالونه-خندقونه، لېرې کړو، د سا را کښلو او ژوند کولو فضا به مو څومره ارته شي.
مينه کول څومره بختورتوب دی.

## د خوب سفرونه

شپه ده او د فزيکي حواسو او ذهن د خوب موقع.
خو اروا، د خوب او استراحت، لوږه نلري.
خوبونه، د اروا، غير ذهني-حسي، بوختې او د ناپايه حقيقت، تازه تجربې دي.
نو خوبونه، خپلې اسماني ننداري وګڼئ.
خوبونه وليکئ؛ دا د حقيقت له اصل سره د اړيکو، وړيا لاره ده.
ډاډه درکوم چې يوه ورځ به د خوبونو حقيقت دومره درته عيني شي، لکه د هستوګنې موجوده دنيا.



## ونې او موږ يې سوالګر

ونې څومره بخښوونکې دي!
د خپل ژوند له سباوون (پسرلي) سره، د پاڼو وزرې اغوندي، او سره، ژېړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارغواني، بوډۍ تال ګلان راوباسي.

ګلان يې وړيا د باد کنډو ته نيولي وي، چې عطر يې د ژوندو حواسو ته ورسي.

عطر يې چې ټول ووېشل،

ټوکرۍ ټوکرۍ مېوې راباسي؛ خو له چا يوه روپۍ هم نغواړي.

## ژوند د خدايي ارادې شکل

ژوند، مبارک دی.

هر څوک چې ژوند ته ګواښ جوړوي، د مرګ له جنسه دي.

زموږ پر ژوند را خښې داړې،

ټولې، شيطاني مغزو کړلي.

پوښتنه:

ايا ټول قاتل مکتبونه،

فکرونه، طريقې، او عهدنامې،

د يوه ماشوم د سترګو بيعه پوره کولای شي؟

## په موږ کې پټ قاتلان!

ژوند د غږ/ کلام، مجسمه دنيا ده.

خو قتل- که دا ومنو، چې مخينه يې د ډيناسورانو نسل ته ورګرځي، نن ورځ د انسان د عقل او اګاهۍ له لارې- هغه هم په ډېره اخلاقي شوې بڼه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادامه مومي!
ښايي نن ورځ به د هر وګړي، ژوند او کار،
د مرګ تر سيوري لاندې سا کاږي!
يعني دا چې له اوو ميلياردو زيات انسانان، په همدومره شمېره قاتلان،
پخپلو ذهنونو او روانونو کې پټ لري!!

## يو نوی پيل

دا د يوې نوې ورځې، نوي ژوند او نوي برخليک پيل دی.
خو دا ټول به ستاسو له فکرونو، خيالونو، پنځېږي!
څنګه، دا تومنه لرئ؟
لږ خپل زړه ته د غږ اوچتولو فرصت ورکړئ!
زړه د خدايي عشق او رحمت جام دی.
دغه جام پر خپلو افکارو، حواسو وڅښئ!

## د باسوادۍ پټه ناپوهي

ټول واقعيت د زده‌کړې لوی ښوونځی دی.
زما د «ويښې»، شېبه هغه ده،
چې يو څوک يا څه شی،
زما د باسوادۍ ناپوهي، را وښيي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګوربت د وېښ روح سېمبول

د جسم، ذهن او حواسو له ویدیدلو سره،

زړه کې ویده ګوربت راویښیږي او د مکان او زمان ها غاړه زمکو په لور الوزي.

څه چې خوبونو کې ګورئ، هغه ستاسو نوي وطنونه دي.

هڅه وکړئ، خپلو دغو تجربو کې هوښیار واوسئ.

خوبونه، خدایي کور په لور د لوی الوت، تمریني پروازونه دي.

ځان ګوربت حساب کړئ. ګوربت د ویښ روح سېمبول دی.

## مستقیم درک

د سقراط د تعلیماتو غورچاڼ دا ؤ: «ځان وپېژنه!»

هغه مهال، چې انسان ځان وپېژانده، نو بیا له ذهنه پورته ګام ږدي. او دلته ده، چې انسان د روح په توګه، د مستقیم ادراک له لارې، ۳۶۰ درجې لیدلوری مومي.

په دغه هوښیارۍ کې وګړی، هر وخت او هرځای هر څه (ویني، پوهیږي او اوسیږي).

دا وضعیت د توضیح کولو نه دی، باید په فردي توګه تجربه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غږ، د هر وګړي مدرسه

سر آهنګ ایف ایم، پر څپو د احمدظاهر د اواز وږم راوالوت؛ ټول یې ویوړم،

د غږ بحر ته!

غږ؛ څه عظمت دی!

د ټولو شویو او ناشویو کلمو، لاس نه‌وهلی حالت!

وایم که یوځل، ټوله هستي واورو؛ ښایي بیا د جنګ او شخړې وبا، په ذهن او حواسو را واکمنه نشي!


غږ د برکتونو، روانه سمفوني ده.

ټوله هستي، د غږ مادي-ذهني څېره ده.

یوه هڅه، له اوله را پکې جاري ده،چې ټول غږ واورم.

ماشومتوب کې به مې، چې ژېړه غوا په پولو پووله، دغه بې‌متنه غږ به د ما د سر دننه په وززز... وززز ...ۇ.

دغه جام څښل، ابدیت کې لامبېدل او ډوبېدول دي.



## غږ مشر شاعر

ځني سندرې مې بیا ډېرې خوښېږي، خو د سندرې شعر تاسو مه رانه پوښتئ؛ ځکه غږ پر شعر مشر دی.

غږ پر شعر او ټول متن کې اول دی.


(c) ketabton.com: The Digital Library



کلمې د غړ نقل و پتاسې،
خستې و بادام،
غنم یا منې
او ښایي تابلیت (K) او (جام شکران) هم وي!
د غړ سپینه سمفوني د سوچه، تازه او بې‌دلیله (پوهې، حکمت او ازادۍ)،
ترلاسه کولو لپاره،
د هر وګړي فردي مدرسه ده.
بې له مېنې بل زیار ته اړتیا نشته.
مینه د وجود خاوره،
د غړ په اباده بدلوي.
مېنان د زمانې زړوران دي!

## بیروني تیارې د دروني تیارو انعکاس

طبیعت، له رنګینو فکرونو ډک دی.
ایا هغه څه چې موږ یوه یوه په ذهن او حافظه کې راټول کړي او پاللي،
یو له ګلو ډک باغ کېدلای شي؟
کله کله، تټوله تیاره زموږ دننه وي،
خو د دار رسۍ، د نورو غاړو ته وراچوو!



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټول روا دي

ژوند د «شېبې» شربت څښل دي.
دغه اوس شېبه کې، یوازې دغه اوس اوسېدلی شې!
نو پرانستی اوسه.
هېڅوک-دغه شېبه، د تا پر ځای،
او تاسو د هېچا پر ځای-د هغه په شېبه کې، نشي اوسېدلی!
خپل روان ژوند، خپل خدای په لور-چې ټول مینه مینه دی،
مبارک سفر وګڼه.
ژوند روا دی. ته هم روا یې. او له دغې شېبې خوند اخستل هم روا دي.

## له ذهنه را څڅېدلې تیارې!

څومره مو ذهن تېز دی، چې بند دی نه وي، بندیخانې دې نه وي او بندي دې نه وي!

خو ایا کله مو دې ته هم پام شوی، چې خپله خو به د خپلو ذهنیتونو او ذهني معلوماتو-باورونو اسیرانو نه یاستو!؟

خوب یو فرصت دی، چې انسان، ځان له ذهني-رواني سانسور دباندې ووینې!

په دې هیله، چې شپه مو له ذهني خیرو د ازادېدو او د سوچه پوهې په اقیانوس کې، د یوه پوره غسل، فرصت واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وګړي، د خدايي غږ څاڅکي

هر ژوندی،

د خدايي ارادې،

د بې‌پايانه کتاب، يو غږ/کلمه دی.

هېڅوک، هېڅ موجود، عبث نه دی.

ځانته،

بل ته

او ټول ژوند ته، د قدر په نظر وګورئ!



## اخر سر

لږ دغه کلمې لمس کړئ:

د خبرونو پای؛

د فلم پای؛

د سفر پای؛

د زده کړې پای؛

د دندې پای؛

د ديدن او ليدلو پای؛

د اورېدلو پای؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ژوند او هرڅه پای...
څه ویرونکي دروغ!
د «وجود» له ژورو مو نارې وهي:
خدای شته؛ نو یاستو!
موږ هر یو د مینې یوه چینه یاستو،
چې باید دغه طبیعت ته شاعر شو.

## خدای را سره دی

ژوند شته؛ ځکه چې خدای شته!

هېڅ ډول وېرې لپاره ځای نه پاتې کېږي!

خو باید ټول هغه کارونه، چې د «ځان»، خوندیتوب لپاره یې لازم ګڼې، د خپلو ظرفیتونو په کارولو سره، سرته ورسوې!

ځانپېژندنه همدا ده، چې په دې عقل و باور پوره اوسې، چې خدای درسره دی!

## ولې د یو بل سر، آزادۍ او مال ته غله!

وايي: «افغانستان د نړۍ تر ټولو زیات په خفګان اخته هېواد دی!»

- دا ولې؟

- دا ځکه: کله چې د یوه انسان ذهن، د بل انسان د (سر، ازادۍ او مال)، د قتل کرونده وي؛ نو خوښي به له کومه شي؟

تجربو بیا بیا راښوولې، چې دې جنت وطن پر لمنه به هغه وخت د خندا

(c) ketabton.com: The Digital Library



گلان را ټوکېږي،

چې انسانان يې د يو بل له سر، ازادۍ او ماله لاس واخلي!

- دا کار څه وخت ممکن دی؟

- دغه اوس؛ دغه سبا!

په ياد مو وي، چې ددې کار لپاره نه په ژنيو کې، کنفرانس جوړولو ته اړتيا شته او نه د ملګرو ملتونو لخوا د يوه ليست تورول، بيا سپينول!

دا کار، ټول افغانان غواړي.

يعني دا چې افغانان ځانونه د خوښ او ډاډمن ژوند، لرلو لايق وګڼي!

## مينې اکادمېسن مسېج

«مينتوب، د آزادۍ جنت دی.»

ايا بې مينې ژوند، ژوند حسابېدلای شي!؟

موږ له اوسه مينان يو!

موږ غواړو مينه مو د خدای په ټولو مخلوقاتو را تاوه شي.

د دنيا فتح د مينې په وس ده.

جګړې، له قهر او ذهني ليونتوبه را زېږېدلې هديرې او کنډوالې دي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه څوک او څه شی

تر هغې چې یوې مور زېږولم، زه چېرې وم؟
تر هغې چې یوه پلار نومولم، په څه نومېدلم؟
تر هغې چې د کلي، قوم، دود، تاریخ واسکټونه او خولۍ یې را اغوستلې؛
پر سر را ایښوولې
زه څه وم، څوک وم؟؟؟
روح، د نوم نیکه دی.

## له تاریخ څخه ځان را ټولول

د کمپیوټر کړکۍ ته ناست وم؛
د ونې یوې پاڼې سره مې لیدل!
پاڼې خپله ټوله ښکلا او ځلا د خدای په نوم خوشې کړې وه؛
پاڼه تشه جالۍ وه، نه شنه او نه هم ژوندۍ!
د پاڼې کالبوت تار تار سره نښتی و، ژوند یې نه و!
ژوند خدایي دی، خدای ته ورځي!
خدای چې نه وي، دنیا وچ، تیاره
او تار تار کالبوت پاتې کېږي.
خدای شته؛ خو چې ذهن مرګ ونهویني.
خدای دی؛ خو چې ذهن (ځای) خوشې کړي؛
خو چې زه خپل کارونه له تاریخ څخه راټول کړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اګاهۍ بام

«پر آسمانځکې ودانۍ مې سترګې ولوېدې.
ودانۍ خېژي، چې انسانان وخېژوي!
هرڅه په خپلو پښو روان دي. د ډبرې پښې په ډبره کې دي.
زانه مخکې تر دې چې هګۍ شي، بچۍ شي او والوزي
خپلې (زانې) پښې ورسره وې.
باد په خپلو پښو روان دی، الوزي
ذهن په خپل جنس کې الوت کوي،
په هر الوت کې لس نور نومونه راوباسي، زياتوي.
د (هغه) نومونه همداسې يو پر بل ور ولوېدل.
کعبه يوه ده. هر حرکت د کعبې ذکر دی.
ښنګه به شي، چې په ټوله هستۍ کې کريغه کړم: «زه هغه يم؛ چې يم»
يوازې اګاهي ده، چې ټولې پولې يې په مخکې مري.
يوازې اګاهي ده، چې د هرڅه په ګاونډ کې ده؛ زړه کې ده.
اګاهي هرڅه جوړوي،
موږ د اګاهۍ ننني، پروني او سباني پوښتونه ياستو.
که اګاهي وغوړو، له ټولو پولو هغه ته ورنږدې کېږو.
اګاهي تر ټولو لوړ بام دی، چې هغه ترې ليدای شم.
اګاهي، نشته؛ هغه ده؛ ځکه چې اګاهي وي،
ټولې ځېرې او نومونه سوځي، ورکېږي؛ خدای شته.

*(د مينې اکادمېسن ورځنيوخاطرو څخه)*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پوهې ګلان

چوپ ؤ، تا به ویل، د مکان او زمان ها غاړه، د پوهې ګلان راټولوي.

ما ده پسې، هلته کتل، هغه دلته راته په خبرو شو:

«زه؛ لکه ته، خدای غواړم؛

هغه پشۍ چې شړپه شړپه اوبه څښي، خدای غواړي؛

خو لږ یې غواړي؛ څکه اوبه څښي

او اوبه خدای رالیږلي.

پشۍ اوبه نه څنډوي.

پشۍ زه په خونه او پر دسترخوان او بالښت نه پرېږدم

پشۍ ککړه ده، حتا دومره لیونۍ چې خپل څو ورځنۍ بچي هم خوري!

بچي خدای رالیږلي.

پشۍ خدای رالیږلي شیان خوري، څښي او یا وربانديې اوږده غځېږي؛

غواړي له خدای سره یوازې شي.

«هغه» نه کتاب لري، نه شناخته او نه د خاطراتو کتابچه!

پشۍ یو څلی نه لري، پشۍ چې مړه شوه، سپیان یې خوري!

پشۍ په خپل مردار کالبوت پسې نه ژاړي.

پشۍ هلته روانه ده، چې خپل خدایي کور یې ګنې!

پشۍ «هغه» غواړي، چې خپل خدای یې ګني!

نو زما دومره خدای غوښتل څه شول؟؟؟

خدای شته؛ آه ه ه...خو ما وغوښته!»

مینه اکاډمېسن هم عجیبه پوهه‌باغ دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خدای سره دومره نېږدې، چې نه وېل کېږي

په ښکلا کې څه شی دي، چې ما د ځان په لور ورکاږي!
ایا زرغون رنګ یوازې کروندې اغوستی، چې زما خوښېږي؟
د بوډۍ ټال چا لاسلیک کړی، چې زه دومره ورته هیښ پاتې شم!
رودونه څه لري، چې زه یې په رباب او سیتار نشم ورکولای؟
ستوري، څومره رڼا راکوي، چې زه یې نندارې ته له څو ولتاژه برېښنا را وځم؛
کښېنم!
ښکلا څومره اقتصادي ده، چې زه د خپلو خولو
او شپو شپو شوګیرویو بیه پرې ورکړم؟
ښکلا، رڼا، غږ، مینه ما چېرې زده کړي،
چې پر دې ژوند یې رایادوم!
زه چېرې وم، چې نن یې ښکلا او عطر دلته لټوم؟
زما ځای، هیواد، ټاټوبی چېرې و،
چې له خپل تل څخه یې د غوښتلو چیغې اورم!؟
ټوله مانا پیدا شوه:
ما هرڅه لرل؛ خو پر شیانو او نومانو مې ورکړل!!!
ما مور خرڅه کړې!
ما هیواد د ذهن په کوډو په قمار وهلی!!
زه هلته ولوېدم؛ چې خدای نه وم پیدا کړی!!!
خدای سره وم؛ نېږدې نېږدې؛ خو چې «زه» مېنځ کې ودرېدلی نه وای!



(c) ketabton.com: The Digital Library



# موږ په څه شي ورتوليږو؟

دا ځېره مې چې اغوستې، شيبه په شيبه خاورې دوړه کيږي.
هره ساه چې را کاږم، بېشمېره اتومونه زما سږو او بدن غړو ته ننوځي.
دا اتومونه، هګل هم را ښکلي، فيثاغورث او
د خواجه اسحق زيارت[1] په سوزنده غولي پروت سپي هم را ښکلي!
زه د چا يوه برخه يم؟
که دا ميليونونه واړه او زاړه فيلسوفان او نقاشان چې
ځېرې او دبدبې يې خاورې دوړې شوي،
زما برخې دي!
چا راوړی يم؛ څوک مې راوړي دي؟
يوازې يو شته!
يو د هېچا نشي کېدای؛ ځکه يې ټول لري.
ايا ټولې بشري تمدني لړۍ پر دې ارزي،
چې يوه «زه» خاورې دوړې شي؟!
موږ چېرې ورکيږو؛
کومه خوا لېږې کيږو؛
پر څه شي ورتوليږو؟
چېرې به ځو چې نه ورک شو؛ نه پيدا!!!
زه چې پر دې نه پوهېږم، بشري مالومات به څه کړم.
زه هغسې چې يم، کيږم
راټوليږم...
ټول مې پرېښول چې په همدې درېو ټکو کې شته؛ خو بې لوستلو پاتې شول!



---

۱ - د بر ميدان د هديرې غونډۍ پر لمنه موقعيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژوند بې شکله کلمه

دغه هوا چې زه يې را کاږم، د کوم نژاد ده؟
دغه اتومونه چې بدن ته ننوځي او بېرته وځي،
په څه يادېږي؟
ژوند کوم جنس دی، چې آدم او ښامار يې لري...
ژوند اصل دی،
که دا ذهني نومونې چې ټول تاريخ يې د وژلو قصه وايي!!
زما او د ژوند اړيکه څه راز ده؟
زه پر ژوند ژوندی يم،
که ژوند زما پر نوم، قوم، پلرني باور...
ژوند څوک پنځولی يا ايل کولای شي؟
ژوند څوک خرڅولای يا پېرودلای شي؟
ژوند څېره لري، رنګ لري
زمانه او سيمه لري؟
ژوند لومړنۍ کلمه ده؛ غږېږي، پنځېږي
او ټولې څېرې او رنګونه اغوندي.
ژوند سپين رنګ اغوندي؛ خو تور يې هم خپل دی؛
نلسن ماندلا يې څوک دی؟
سقراط او لايي تسه څوک دی؛ ژوند دی!
ژوند هغه رود دی، چې ټوله هستي ورڅخه پنځېدلې
او پنځېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




ژوند عشق دی، عاشق دی، معشوق دی.
مذکر او مونث نه لري.
مذکر مونث غوښتی؛ مذکر شوی.
جنسونه، او رنګونه، او قومونه زما فرمایشات دي!
او ژوند دا ټول اغوستي،
راوتی چې زه بې دلیله خپل برخلیک وګورم،
چې رنګ یې زما دی، حجم یې زما دی.
زه شیبه شیبه، کټ مټ له ځان سره مخ یم.
زه خپله بیه یم. زه خپل دوکان کې ناست یم
او وچولی مې ګنډلی، چې (کافر) یې له کومه شول!
هغه د ژوند یوه څېره ده، چې دا شیبه همدومره را بربنډېدلای شي.
قدونه، او عمرونه، او کتابونه واړه یا زاړه؛
ناچله یا مړه نه دي؛
د فکر او اګاهۍ ټولګې دي، چې په خپل وړ کالب کې زېږېدلي
او زما مخکې پالنځي ولاړ دي.
زه که وړکتوب وینم، یا که څوک د فکر وړکتوب وینم،
یا که فکر او باور وړکتوب وینم؛
یوازې دا تجربه کوم، چې خدای له ټولو کوچنیانو سره دی.
سړی، فکر، باور، څېره، نژاد، وینه، تاریخ...به کوچنی وي.
خو هومره نه چې بې خدایه شي؛
له خدایه ورک شي.
زه به یې ورک کړم؛
خو هغه یوه شېبه نه یم ورک کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرنوشت خدايي فرمان

زه د فکر او باور يوه سطحه يم!
زما او آسمان ترمنځ همدا رنګونه، قومونه، باورونه...دي،
چې زه پټه په پټه ورخېژم.
نړۍ معنوي ده.
هستي خدايي ده.
سرنوشت خدای ليکلی فرمان دی.
زه چې هر چېرې وم، هومره نېږدې يم،
چې هر بل رنګ يې نېږدې دی.
هر رنګ، هر کالب، هر فکر...
هغه برج دی، چې يوه اروا ورڅخه،
د ورک وطن په لور ورګوري.
زه چې هره شېبه، او رنګ او فکري کالب ناروا ګڼم؛
د خدای په لور يوه پرانستې سترګه ړندوم.
خدای هومره دی، چې ټول يې د ليدلو-درلودلو
په حق او سرنوشت پيدا دي.




هره شېبه چې له پښنو غورځوو، د مينې يو ننداره چي،
يو مينه‌ور دی؛ چې مري، هابيل کېږي؛
لکه «زه» يې چې قابيل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند غږیز لاسونه

کاڼی یوه اګاهي ده، کاڼي هومره سخت ویده دی،
چې یوازې سنګتراش یې را ویښولای شي!
د سنګتراش لاسونه هغه ژوند خوځوي،
چې له خدای څخه راځي!
سنګتراش یوه څېره ده، یوه دبدبه!
خو ژوند هغه خدایي غذا ده،
چې د میني زانګو کېږي او هستي له ټولو خاورو دوړو سره،
تر شنه تشیال لاندې، اهنګینه خوځوي.
اهنګ د ژوند درزا ده،
چې د مور له «اللو للو دلته مه راځیه غلو...» دمخه،
ما د هغه کور په لور ور بولي، چې له ازله زما په نوم تش پیدا و.
زما لاره هغه ده، چې کور ته به پرې ورځم.
د زاڼې الوت هغه ده، چې کور ته به یې ورځي.
د عالم لاره هغه ده، چې د فکر او باور په زور یې،
په «ډار» او «زور» غواړي.
څوک دي، چې بې لارې دې وي؟!
د ژوند ډولونه په خپلو طبیعي لارو
کورونو ته روان دي.
خدایي دي کورونه؛



(c) ketabton.com: The Digital Library



معبدونه!!!

که څوک وي، چې زه يې لارې ته برابر کړم؛ خپله به را نه ورکه شي.

که څوک وم، چې نور مې بايد بوځي، خپله به مې نه وي؛

تجربه به مې نه وي.

څوک نشته، چې څوک يې بوځي،

ځکه لارې جلا، جلا؛ خو مقصد يو دی.

ځکه خدای يو دی.




(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوهه، پر وسپنه را شنه ژبه

شیبه، شیبه په یوه کالب کې
په بل کالب کې؛
را وتی او ورځخه «پورته» شوی یم!
د بدن کالب نشته؛ یوازې مړه عکسونه دي،
چې په (تمدونونو) کې سره جنګېږي.
که یو ځل فزیکي زمان ودروم،
په ځټ ولاړ شم، زما لاره به چېرې وشي؟
بل څه نشته چې وېې مومم؛ خو خدای!
زه ځټ ته ځم، له متن څخه دمخه کېږم؛
له «اوسپنې» «برنز» «مس» «ډبرې» وتلی، وتلی،
یوازې خدای موندل کېږي...
زما ټولې موندنې نقلي دي.
خبرې مې هغه ماشیني شوی اهنګ دی،
چې له خدایه رابهېږي.
هېڅ شی سخت نه دي؛
یوازې زموږ ژبه، کاغذ، او متن اوسپنیز شوی.
په اوسپنه چې کرښې را شنې کوې، نو په اور به کښېنې،
اور به خورې، چې وخوړل شې.



(c) ketabton.com: The Digital Library



«هغه» شته! بې اوره، بې ډبرې، بې مسي او برنزې معبدونو؛
هر ځای شته.
ما څه وکړل، خدای را نه خاورين شو!؟
په خاورينو معبدونو کې اوسي
او اوسپنيز غازيان راځي، چې له معبدونو «کوه نور»
او سنگ شامقصود غلا کړي؛
کور سره نړېدې، خدای ته کور جوړ کړي.
خدايه! ساده کېږم!
طلايي، او نقره‌يي، او مسي
جامې هېروم، ساده کېږم؛
متن وباسم، چې له مړه فيلسوف سره پاتې شي!
زما څه نشته؛
زه هغه را نه ورکه برخه يم،
چې کټ مټ دې په ساه را کښلو کې وشو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرښې، لوی په لور خاپوړې

دا کرښې هم عجیبه سترګې دي!
زه په کرښو لګیا یم؛ غواړم (غټ) ووینم!
غټ که غ غ غ غ...ټ وي،
په دې خولې کې به څنګه ځای شي!؟
لوی د خولې نه دی.
لوی د متن او کرښو نه دي.
لوی (ټول) دی؛ خو یو هم نه دی.
لوی دی، غټ دی؛ خو نه دغه څېره،
خبره او وچه د حروفو هندسه!
لوی شته.
لوی بهېږي؛ غړېږي؛ څرګندېږي،
ټوله هستي یوه په نومونو، نژادونو، باورونو...
داغ کړې خوله ده، چې د لوی نومونه غړوي.
هر غړ، او آه، او مینه ګره اوښکه
هماغه غړ ده چې غټ غړوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک نه وم، چې ځان پیدا کړم؛
نوم پیدا کړم، سیمه‌وال او فکروال شم؛
قوم او ژبه او پالنځی یې پیدا، پیدا...
شم!
زمکه نه وه، چې پاتې شم.
معبدونه او زمکني خدایان نه وو، چې ژوندي واوسي؛
مړه دي؛ کاڼي مړه دي.
په کاڼو که ورمنډه کړم، حتا پلار، نیکه، غور...
لر او بر نیکه ورک کوم.
زما څوک نشته؛ څه شی نشته.
خدای شته؛ خو څوک یې نشته.
خدای شته؛ ځکه دروغو ته ځای نشته.
دا څوکی، مېز، کمپیوټر...
خونه، ودانی، ښار...
هیواد، زمکه، کیهان...
هستي او نیستي نشته؛ خدای شته.
خدای چې شته؛ نو «شیان» به له کومه شي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټول زه بندي

څومره چارې او کارونه سرته رسېږي، چې واړه او زاړه يې د پښېمانۍ په اور کې سوځي.

«زه» ځان ته واک ورکوم،

چې ځان، کورنۍ او ټولنې ته سمه لاره پر ګوته کړم!

شناختې ځکه له ټينګو ډبرو جوړېږي،

چې له لکړو لوېدلي لارښودان، د ډبرو په قد کې ودرېږي!

او چې ترڅو «زه» وم روان؛ ژوند چل او ناچله اعلان کړي.

ژوند شته؛ خو مور يې تېروو!

ژوند لرو؛ خو را څخه تېرېږي!

زما او د ژوند زمان سره بېل دي.

زما زمانه له څلورو فصلونو،

له ډبرينو لوښو او زري تاجونو سره ده!

او د ژوند زمانه هغه ده، چې ژوند وشي.

زه ژوند په عکسونو، لوړو ديوالونو او هغو متنونو کې ګورم،

چې نور نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د ژوند تحقیق کوم.
زه یو څه او ژوند بل څه دی.
زه ژوندی یم؛ خو لا مې ژوند ویښ نه دی.
زه ژوند له تېر سپېدو چاود،
را روان ژېړي مازدیګر،
او را په لاره قیامت چاودنې کې تېروم!!
هو زه ژوند تېروم؛
لکه بندي یې چې تېروي.
تازه پوه شوم، بندیان څوک نه و، ټول زه بندي وم.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# له اوس پرته بل وخت نشته!

دا ورځ څه شوه؟

هاااا! دا شيبه څه شوه؟؟

زه د شيبې، ورځې، مياشتې

او کال يم که واړه زه يم؟!

زه دغه شيبه يم، څومره چې ويښه په ځان کې لرم-تېروم!

نن مې په خپلو ساه را ښکلو، ويناوو، چلندونو سره-پره، کړه.

وينې زما وې؛ ما تويې کړې.

ما (هغه) ونه ليد.

ما خپلې کړې، وړې خواوې؛


دلته-هالته...

په سړي او مانفسټ يا عقل کې ليدې؛

ړنگې کړې!

لا کوړ، لا تياره شوم؛ لا ډک لا جاهل شوم!!

رښتيا چې اوس ټوله زمانه ده. اوس ټول وخت دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپین غر د حیات چینه

غوړۍ په دواړو غوړو را پرتې دي او یوه هغه شپېلۍ غږېږي،

چې ټوله ځواني یې د (زاړه ښار) په سرپټو کوڅو کې وغړمبېده؛

له وچو لرګو-وسو سره والوته،


او دلته کسټ په غله ژبه ما د غږونو په کاغذونو کې اوبه کوي!

غږ شته؛ کاغذ ځنګه اورم!

غږ نه ثبتېږي، نه ودرېږي، نه وچېږي!

غږ نه مري؛

تر څو «غږ» ته ورسېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# خدای او کتابي ډبرې

ژوند په یوه کالب کې راویښېږي، الوزي،
د ژوندسرچینې ته ځي.
ژوند شته؛ خو نه وېل کېږي.
ویل، کړل، جوړول، ورانول...زمکني دي.
زه یم؛ نو څه شی جوړ شي؟؟؟
چې خدایي نه وي، په کومو سترګو به پاتې شي!!!
هی!
ثومره مې زمکه، هوا،
اور، اوبه، باد
باد، باد متن کړل؛ خو نه شوم!
زه هغه یم، چې یوازې خدای ته معلوم دی.
یو هغه کامل دی،
نه یې زیاتوي، نه یې لږوي؛
ځکه هغه «هغه» دی، چې دی.
هی هی!
دا مې ثومره زده کول.
ها خو هرڅه کې دی.
دا لکه چې کتابونه او ډبرې له یوه جنسه شول.
...
نه به یې وایم، کنه کتابي ډبرې بل نژاد راباسي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## له ډېرينو معناګانو آزاد غږ

دا ليکل، څه غواړي؟
هغه شته او زه يې ځنګه ووايم؛ وليکم!
زه که «ځان» وم، چا ته يې ووايم!
ولې يې ووايم...
هر وګړی بل څوک-څه نه دی؛
«خپل» دی.
هره پاڼه خپله ده؛ پاڼه ده!
زه ولې په متن او رنګ کې بې ژونده پاڼې،
کوچنۍ، کوچنۍ خوشې کوم،
چې ورکې شي.
پاڼې خدای ته ورځي.
پاڼې به هغه کړس او کړوس غږوي،
چې ما «خلک» پرې پوهول!
هغه به وايي:
سترګې دې وې، ولې دې ونه کړل ليدل.
خوله دې وه، ولې دې ونه ويل (...)
غوږونه دې ؤ، ولې دې بې کرښو، دفترونو
او له ډېرينو معناګانو، خپلواک «غږ» نه اورېده!



(c) ketabton.com: The Digital Library




## زه څوک او څه شی

تر هغې چې یوې مور زیږولم، زه چېرې وم؟
تر هغې چې یوه پلار نومولم، په څه نومېدلم؟
تر هغې چې د کلي، قوم، دود، تاریخ واسکټونه او خولۍ یې را اغوستلې؛
پر سر را ایښوولې
زه څه وم، څوک وم؟؟؟

## دا لیکل، څه غواړي؟

هغه شته او زه یې څنګه ووایم؛ ولیکم!
زه که «ځان» وم، چا ته یې ووایم!
ولې یې ووایم...
هر وګړی بل څوک-څه نه دی؛
«خپل» دی.
هره پاڼه خپله ده؛ پاڼه ده!
زه ولې په متن او رنګ کې بې ژونده پاڼې،
کوچۍ، کوچۍ خوښې کوم،
چې ورکې شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې خدای ته ورځي.
پاتې به هغه کړس او کړوس غږوي،
چې ما «خلک» پرې پوهول!
هغه به وايي:
سترګې دې وې، ولې دې ونه کړل ليدل.
خوله دې وه، ولې دې ونه ويل (...)
غوږونه دې ؤ، ولې دې بې کرښو، دفترونو
او ډېرينو معناګانو ، «غږ» نه اورېده!



(c) ketabton.com: The Digital Library



## زمانه د غلا غځول

څومره چې ورباندې غږېږم، لېرې کېږم.
څومره چې پوهېږم، هومره يې دروغ وايم.
شته، نه ويل کېږي؛ ښوول کېږي!
نشت وايم، ليکم او د کاغذي غږونو کاروانونه،
د ذهن وچ، کرخت، بې‌مالګې جنت ته، ور جاري کوم.
غږ شته... څوک غږېږي!
خو چې زه غږېږم، غږ ډوبېږي!
ليک د غږ احتکار دی.
ليک د ليکوال نه دی؛ اخر په هرڅه کې (يو) دی.
څوک به نه غږوم، غږ خپله غږېږي
يوازې غږ غږېږي، ما خپل د شعور جيبونه له غږه را غلا کړي!
هغه هرڅه لري، خو پوليس يې زه يم او «زه» يم؛
ځکه نو زمانې، زمانې زما د غلا، غځول دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# مینه چې شته لاندې وباندې نه‌شته

غوښتل مې مینه ووایم.
مینه یوه ده، یوازینۍ ده، خو له ټولو ډکه.
مینه لومړنی غږ دی. مینه زما د زړه سپین اور دی. مینه کور دی،
که زه یم، که یو تور دی.
که زه هغه-دغه یم؛ «هغه»، «دغه»...هغه هم ژیړ دی؛
کور دی! مینه یې اور دی.
که ها لیبیې...رې تاریخ کې بند، وچ وچ بدن،
ځیږ لکه ډبره ژاړي هم ډبره؛ خو مینه یې کور دی،
مینه کور دی.
مینه، هغه کلمه ده، چې کور یې هلته/دلته دی،
خدای سره دی.
مینه، هره شیبه ده، خو چې خوشې یې کړم.
مینه، یوازې زیاتیږي، نو ځکه به خوشې کیږي.
مینه، نه په زمکه کې ځایګی لري، نه ستورو او کیهانونو کې.
مینه، زما په اندازه ده، زما په قد او په زمانه ده.
زه او مینه همزولي وو، دنیا ته راغلو، چې هره «هستي» ښکل کړو.
مینه، نه زما ده او نه د هغه چې زه یې وژلو ته فکر، چاړه او کبر شپه او ورځ،
له ځان سره، په ځان کې ګرځوم.
مینه کور ده، پر هرڅه راچاپیره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه د «ده» او «هغه» اور ده.

مینه هغه جوهر ده چې دومره څېرې، او رنګونه،

دومره شمېرې او نژادونه ور څخه جوړ شوي.

مینه خدای ویلې. مینه له خدایه راځي، ما اخلي او بېرته ورځي،

ځکه چې خدای چې شته؛ فاصله نه‌شته.

دغه زه، زه، زه...نوم نه‌شته،

قوم او قبیله او یوازینی رابلد نه‌شته!

خدای چې شته؛ نو هیڅ نه‌شته.

مینه، چې شته لاندې او باندې نه‌شته.

مینه، اواره ده، هومره چې زه زړه، دنیا ته چې پرته له «هغه» بله هېڅ نه‌شته؛

اوارولی او سپینولای او له خدایي نغمو او رنګونو ډکولای شم.

مینه، ستره ده، څومره چې زه «سر» ور لوړولای شم.

مینه، زیاته ده، هومره چې زه یې ورکولای شم.

بل نوم یې نه‌شته:

مینه ده، مینه ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی غبر سندره

خدای شته!

نو څه ورکه شه «زه» مینه دومره ده، دومره ده، چې پرته له خدایه هېڅ نه‌شته!

خدایه، دومره ښتوالي ته څه وکړم؟

وناڅم، آوازونه ووایم، که سپین پاتې شم، چې دا کاروان غبرونه،

دا ګلان ګلان رنګونه،

دا سمندر سمندر مینه را باندې تېره شي.

دا «...» راته وايي، چې لومړی حرکت نڅاه ده!

لومړی غبر سندره،

او پیلنی انځور هغه دی، چې لا په خوله نه راځي!

زه به هغه ژبه را ژوندۍ کوم، چې «هغه» ورباندې سندره شي.

زه به هغه غوږ را ویښوم، چې «غبر» او «رڼا» یې ورباندې را دننه‌شي،

ما پاک یوسي؛ د ذهن او حواسو له غلاوو مې ووینځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## له خدای پرته ټوله بې‌سوادي ده

نه به يې وايم دا د بدن خاورين کنډولې مې خام دی؛ اور به واخلي.

آه ه ه...!

څومره چيغې مې وهلې، چې راويښ شم.

هومره مې را باندې وليکل، چې بېرته بې‌سواده شوم.

بې‌سوادي ښه ده، ځکه خدای شته،

نوره يې بې‌سوادي ده!



## بې‌نومه

يو بې‌نومه دی، چې دومره مې غږوي!

يو بې‌نومه دی، چې زما تر وينا، نصيحت، پوهې او عقل بيا هم لوړ ودرېږي.

نه يم هغه خوله، چې بې‌نومه پرې وويل شي.

نه يم راويښ شوی هغه غوږ، چې دغه د هرڅه پلار

سکوت واوري!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سر سره ولاړه مینه

مینه، چې کیږي او بیا زیاتیږي.
مینه، چې په کېدلو پیدا کیږي.
مینه‌شته، څکه هر څه کیږي.
...دا رنګین رنګین نسلونه، نژادونه، فکرونه، باورنه
له مینې را شنه شوي.
هر ژوند مینې کړی او زیږولی دی.
په هرې څېرې او بدلون سره، مینې (څېره) نوې کړې.
ټول وېناوال او بنسټګر زاړه دي، مړه دي؛
څکه چې خدای دا او هغه اوتې بوتې نه دي: «خدای شته».
څومره چې ولوېږم یا پورته شم، مینه سر سره ولاړه ده.
مینه، چې خدای هره خوا لیږلې، هغه ته ورغلې.
مینه، د ارواو تلل راتلل دي.
مینې راوړي، په مینه ورغلي.
مینه، یوه ده. یو ځای ده، څکه هر شی «ځای» دی د مینې.
مینه، ژوند خپل خدایي کور ته خېژوي.
او هر څه خدای غوښتي.
مینه، لکه ټول نومونه، ټول رنګونه، مذهبونه او نخشه په لاس استاذان
چې ژوندی کلام غږوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## مینه د ټولو بر خلیک

دغه مسافره اروا، چې خدای یې شته دی.

هر څه خدای پیدا کړي؛ نور څه وغواړم.

بل څه نه‌شته. په خدای کې بل څه نه‌شته.

مینه‌شته؛ خو نه لیکل کېږي.

لیک زوړ، کاغذ زوړ، خوله او ګوتې زړې او مینه نوې،

دغه شیبه او دغه، دغه...

مینه، د آسماني کور هغه لاره، چې په هرڅه کې ریښې لري.

مینه ټوله ده، ټول په مینه کې دي. او همدا یې مینه ده.

ځکه زره زره هستي، نوې نوې مینه ده.

## د دغو اوتو بوتو لیک بر خلیک مرګ دی

هی هی! څه شولې هغه شیبې، چې دا او «دا» مې ولیکل!

څه شوې هغه شیبې، چې «دا» او دا مې نه و زده؟!

...لیک هم عجیبه دوړه ده، چې څومره یې کوششي ولیکې، زړو ښکاري.

څومره چې غټ شې، ډېرو ته ورته کېږې. څه شی نه‌شته چې پاتې شي.

اوس چې مادي یم، جسم او تن لرم! ذهن او حواس لرم! څه وینم؟!

هغه څه چې زما د هویت نښې، نېټې او پېښې بلل کېږي، څومره یې ژوندي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا ژوندي یې څومره «ژوندي» دي؟؟

ایا ژوند هغه نېټه دی، چې د رحمان بابا په شناخته یې کښلې؟

ایا هغه وړمه شته، چې په امیر کروړ یې «زه» او «زمری» راویښاوه؟

لږ تر لږه نیم هویت مې مړ دی! او زه څومره ژوندی یم؟!

پښې مې پرونی نه دي پاتې،

لاسونه هم له پرونه ستړي دي، سترگې هم ځینې پروني شیان، نور نه‌شي لیدلای!

...زه زره زره زړېږم!

ددغو خبرو، ویناو، اوتو بوتو برخلیک مرگ دی!

ولې لگیا یم؟

ولې یې لیکم؟

ایا پوهېږم او که پوهېدل غواړم؟

څه شی زده کړم او څه شی ور زده کړم؟

سقراط کلونه، کلونه سوالونه وکړل،

خو وروستۍ چیغه یې پردې تکي وچه شوه، پوه شو، چې نه پوهېږي!

انشتین تر نسبیت پورې اوچت شو. او نسبیت یې هم هغه تابلو معرفي کړ، چې د عشق پر غېږ کې پروت ماشوم، او د دار رسۍ ته ولاړ مجرم، په‌کې (ساعت) ویني.

## تندی پر پوښتنو وېشتلی

هېڅ شی د زده کړې لپاره نه‌شته.

کتابونه-تحقیقونه د مینځلو لپاره لیکه دي.

خدای چې شته، زه د څه شي تحقیق وکړم!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



روح چې شته، له ذهنه ولې تېرى ونه کړم؟!
اه ه ه...څومره مې خپل سر او تندى پر دې پوښتنو وويشته!
چې چوپ شم هر څه پيدا کېږي...

## د جلاوطنۍ مدرسه

زمکه د تبعيد مدرسه ده.
ميلمه نه‌شته، ميلمستون نه‌شته...دلته يوازې ورکړه ده.
څه لرم چې آسمانونو ته يې وخېژوم؟
د احساس کومه څپه، د عاطفې کومه غوټه،
د فکر کوم فرمول ددې دى، چې نه لېدلې ته يې يوسم؟!
څه نه‌شته چې ترلاسه يې کړم.
دا خاورې، دوړې، دا په خړو ککړې اوبه،
دا اورونه او دودونه...
دا هوا او توپانونه ...ددې نه دي، چې له زمکې لر او بر پرې تېر شم.
زه (يو) بې‌تجربې روح راغلى يم، چې په زمکنيو پښو او لاسو،
حواسو او مغزو، حقيقت تجربه کړم.
زه څه نه يم؛ د مينې ورکړه يم.
مينه وېشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مینه یوازې مینه ده

مینه شخصي نه ده. د ما نه ده. د پلار او نیکه نه ده...

غر او ډبره یې نه ده.

کلا یې نه ده، برج یې نه ده.

مینه نه ده!

خدای همداسې پیدا کړې ورا لیږلې!

مینه خدایي غذا ده.

مینه به لاس په لاس شي، تر خدایه پورې.

که له هغه راغلي یو؛ نو چا ته به ورځو؟!

چې خدای شته پښې په چا پسې وکړم.

چې مینه خدایي ده، له چا یې وسپموم؟!

چې مینه‌شته؛ نو زه له ځان او نورو سره ولې جنګېږم؟

یوازې مینه کېږي، او مینه یوازې، «کېږي!»

مینه یې ورکوي، ورکوي، ورکوي...چې هر ژوند مینه¬ګر را ژوندی شي.

برخلیک همدا دی.

څو چې مینه ونه کړم (ورنه کړم) لا به جنګېږم!



(c) ketabton.com: The Digital Library



## له مینې سره خدای ښکاره کېږي

مینه کېږي.

مینه د هڅو خاتمه ده. مینه چې وخوځېږي، زمان مري.

مینه چې وغږېږي، خبره وچېږي.

مینه چې ښکاره شي، خپل او بل هېرېږي.

مینه چې وشي، تول (مکان) بې کوره وبې ځایه کېږي.

د تاریخ کتاب سپینېږي،

هندسه، له اشکالو او مکانونو څاخي،

فزیک، تېوله لاره په ختې را وهي،

ادبیات، تول په اوبو لاهو کېږي،


مجسمې، تولې یوه ته ځانونه خوشې کوي،

او ښکلاوې له ذهنونو، حواسونو را آزادېږي.

مینه چې وشي، خدای ښکاره کېږي!

هو خدای ښکاره کېږي.

فقط مینه چې وشي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمکه د ځېرو د جنګ تياتر

آه!

چې غرېږم، او غړمبېږم؛ لا ورکېږم.

چې حافظې ته يې سپارم، هومره بې‌مانا کېږم!

چې پرته له ما، بل چا نه ده ليدلې.

چې په وچ (متن) او ډېرليکونو يې لولم، هومره ناخبره کېږم.

چې څومره يې لټوم، لاورکېږي!

چې څومره يې غواړم؛ لارغړلي، لاتښتي، لالېرې کېږي!!

په غوسه شم، چيغې وهم...لاځي¬¬¬¬¬ي¬ي¬ي...

ورکېږي؛ چېرې نه ويګ له دننه دننه را ګوري!

او زه دباندې دباندې، ورپسې ورک يم.

...ما ټوله زمکه اپل کړې، خو هغه نه‌شته!

هغه و، خو رانه ورک دی!

په ځان کې را نه ورک دی.

ؤ! چې وخوځېدم، وران شو!

چې ومې کتل؛

لېرې شو، هېر شو!

چې ناره مې ورپسې وکړه، هومره لېرې ولاړ؛

لکه د غرړ پر څپو چې، زما ناره تښتي، تښتي...

هغه شته، چېرې چې زه غواړم.

هغه شته، چې «چېرې» ورپسې ونه ګورم.



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه شته، چې په «بل» کې يې ومنم.

بل نه‌شته، پرته له يوه بل نه‌شته!

**ځېرې هغه وسلې دي، چې د زمکې له پيله مو سره جنګوي.**

نومونه هغه خنډونه دي، چې هغه ته د ورتګ په واټ مو،

سره کنبېښول او هغه لېرې، لېرې، لېرې شو!

څومره چې ورپسې ووتم؛ هومره لېرې شو، ووت!

زه دې باور وژلی يم، چې هغه مې نه‌شته؛ هغه ته ورځم!

سبا ته ورځم.

## سبا، نه شوې زمانه ده!

او زه يم، خو را څخه ورک دی!

«زه» هغه نوم دی، چې هغه يې نيولی!

ټول «زه» دروغ دي، ځکه يې نه ويني!

زه دې خبرې ډارولی يم، چې مخ او لاسونه، سترګې او غوږونه، زړه او ذهنونه...

هسې سپين او نقاشي کړم، چې په پورته (کتاب) کې راغلي!

نه، نه...هېڅ شی مې نه‌شته، پرته له خدايه هېڅ شی مې نه‌شته.


اووو...زه..نه..يم!!

که زه «زه» وم، بيا هغه نه‌شته.

حقيقت يو دی.

هغه يو دی. يو «يو» دی؛ زه يا هغه نه‌شته!

زه چې «زه» نه وي، بيا نو هغه زه ده!».




(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې مينې هېڅ نه‌شته

آه!
په دې لرګينو توريو څه وکړم!
په دې غاښوره خوله، څه ووايم!
په دې غوږو، چې وينې يې ژوند دی؛ څه واورم!
چې بې وسلې نه شم، هغه مې نه‌شته.
چې سترګې او غوږونه، پښې او لاسونه...
فکرونه او زاړه آوازونه، تش او خالي نه کړم، بقا مې نه‌شته!
هو! بې مينې کولو هېڅ نه‌شته، هېڅ نه‌شته...!

## لارې د مينې بحر ته ورتوېږي



مينه په کولو پيداکېږي او زياتېږي؛ روانېږي.
مينه برېښنا ده، زيرمه کېږي نه!
بل حرکت نه‌شته، مينه حرکت ده؛
دادې مينې حرکت دی.
مينه غوړېږي، څېرې او نومونه اغوندي، روانېږي.
شخصي نه ده، مينه خدايي ده...
او خدای بې دليله مينه کوي.
خدای چې څو (وو) مينه کوي.
زه چې پيدا شوم، مينه پيدا شوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوڅو ته ووتم، خبره د ملا شوله، سبق ته يې ونيولم، څه (شی) رانه ورک شولو...

په دې کې ها چې ووړ وم ځوان شوم، زړو شوم، ولوېدم، ورک شوم؛

هرڅه چې گورم؛ (هغه) مينه دی.

مينه مې ورکه کړې؛ مينه نه کوم،

ځکه رانه ورکه ده.

مينه، څومره چې وشي، لازياته پاتې کيږي، خو نه ساتل کيږي.

له مينې خلاصی نه‌شته.

مينه هغه زمکه ده، چې ټولې لارې ور رسيږي.

(لارې) نه‌شته، يوازې مينې ته ورتلل دي.

نو ټول روان ورغلي، رسېدلي...له مينې ورک نه‌شته.

ده نه ده، هستي د خدای خبره ده. ژوندی خبره.

## د زمان د کپس بتان

زمانه، زما حافظې جوړه کړې.

اوس يوازينی دی. يو همدا اوس دی.

تللې لاړه، نه راغلې نه‌شته، رښتيا همدا اوس ده.

واټن همدا دی.

واټن هغې زمانې جوړ کړی، چې ما ته د عمر شيبې، ورځې، مياشتې او كلونه را شمېري!

زمانه مې مرگ ته ورولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمانه هغه کېس دی، چې ما پر ځان را تاو کړی.

دا ختین، لرګین، ژېړ او سره او سپین شیان دي، چې تللي یا راځي.

«هغه» نه ځي نه راځي؛ هغه همدا اوس شته؛ نو د پرون او سبا خبره یې دروغ ده.

د بې‌خدایی، تېوله فاصله د زمان په کېس کې ده.

هغه بې‌کېسه دی. آزاد دی. یو دی. او (دی)!

دا نومونه، دا څېرې، دا خبرې، دا اوتې، بوتې...

دا کارنامې څومره راپورې درنې شوې!

که کامیابي ده، که ناکامي، که سرلوړي ده که بې‌عزتي،

ټول د همدې کېس بتان دي.

دا د واقعیت زمان مې په بتانو وپېرساوه، وپېرساوه...چې په‌کې له لوړه، لوړه برجه راولوېدم.

هېڅ شی نه و؛ یوازې خدای و.

زمان چې اوبو یوړ، زه هم ووینځل شوم، بې‌خدایي ولاړه هومره ورکه شوه، هومره چې هېڅکله نه وه.

## لیکوال ځان لیکي

لیکوال ځان لیکي، او ښه یې همدا ده، چې همدا لیکي.

ځان چې نه لیکي؛ نو څوک به لیکي؟

خدای شته؛ نه ځي، نه راځي...

په پوهه کامل، په واک او ځواک پوره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند له هغه څخه، هغه يوازې مينه او په هرڅه کې پورته له بيانه!

نه، نه ليکل کېږي، نه تفسيرېږي.

...او ليکوال ځان ليکي!

خو چې دومره رښتونی شم، چې د توريو په ورا کې، د (ځان) پته بلا ووينم؛

(شيطان) همدومره نېږدې دی!

ما چې «بل» پسې کانې وارول، شيطان لا زيات شو.

ټولې شيطاني خبرې، خبرې، ويناوې او لارې،

زما خپله ننداره ده: زه په نورو کې د ځان په ننداره وم.

شيطان بل چېرې نه ځايږي، پرته د «زه» له سوړې.

ټول «زه» همدا دی.

دنيا خدای پيدا کړې او خدايي ژوند په‌کې ځغلي، منډې وهي.

سړي، رنګونه، قومونه، وچې دښتې او شنيلي غرونه، ټول د خدای په سندره ډک دی.

## هر نوم د خدای د نوم بله څېره

چېرې نه دی؛ همدلته پټ دی. همدا يې پوله، همدا يې ځاله.

زه يې له لومړي ورځې سر پورې ولاړ وم؛

زه وم، پرې تېروتلم.

چې ويې وينم، بيا مې د چا وژلو، ابلولو، بدلولو او سمولو پسې نه‌شي لېږلای.

چې ويې وينم، بيا ټول اورونه، او سيورې، ټولې فاصلې او دامونه،

همدلته نېږدې په نېږدې، همدلته په ځان کې وينځم او (يوه) ته، نغده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورگورم.

چې خدای پیدا کړي، د خدای نوم ورباندې ځلیږي.

هر ژوندی یوازې، یوازې، په هغه غږ چې خدای ورکړی، نارې وهي، خدای یو دی.

زه په چا چاره ور تېره کړم.

**د خدای رنګین نومونه، ټول په خدایي حافظه کې شته.**

## زه زمانه

همداسې مې لیکم...همداسې مې لولم...همداسې مې مینځم...

همداسې مې ګورم... همداسې مې ورکوم؛ لکه لاره چې ورلنډوم.

ټوله لاره په ما کې تېره شوې.

رښتینې هندسه مې ولیده، ځان لیکلو پرې وروستم.

تاریخ مې پای وموند. زمانه مې پای ته ورسېده.

ټول زه زمانه و، او زمانه «زه» وم.

فاصله بله نه وه، فاصله بله نه وه...

د فاصلې زمانه ټوله «زه» وه، «زه» وه، «زه» وه...



(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه د پنځو ښامارانو کلا

دنیا ته مې کتل، کتل، کتل...چې پوه شوم:

«ما خو ټول دنیا ته کتل!!!»

ځان ته مې وژړل؛ ځان ته ور ښکته شوم؛ وېرېدم، ځان سره نا اشنا وم:

دننه سمڅې وې او سوري، او ګړنګونه!

کړس، کړس شو...یا کټ، کټ شو...یا ترپ، ترپ شو:

پنځه سرونه مې ولیدل!

لکه غل او پولیس ودرېدم. څک شوم. سترګې مې رډې، رډې راووتې!

غوږونه مې بوخ، بوخ ودرېدل. خوله مې وازه شوه، وازه شوه...

هومره وازه شوه، چې ښامار ترې راووځي!

ټوله بلا همدا وه؛ دنیا مې نوره هېره وه؛ همدا ټوله دنیا وه.

ټوله بلا په ما کې دننه وه، نېږدې...کټ مټ زه، زما وه!

د «زه» کلا، په غوښو وینو جوړه کړې وه.

پر ښکلاوو شرمونه ما ور داغلي وو.

وېره ما راوړې وه، جګړه ما کړلې وه.


لال او زمرد «ما» ځانته لیکل کول...

دا چل ذهن جوړاوه!

ذهن خپلو شیانو، سرپیانو، هدیرو او ملنګانو باندې،

چې «ګفت» ورته شوی و؛ زړه تړلی و.

ذهن، د حواسو پر پېښو رنګونه غوبل کړل.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د حواسو په لاسو يې غلې او گانې او زوروړې خاطرې په خپل نامه کړې.
د حواسو په سترگو يې خپله دنيا هومره وغځوله،
چې نسلونه، نسلونه يې، په‌کې ولاړ شي او دا لا اوږده شي.
...
«زه» بر ناست و. شمله آسمان ته لوړه؛ د جنت حورو ښکلوله،
خبرې: «دا زه وايم!»...
د گېډې گړمبهارى، او د ښاپېريو چکې، کتابو ته ور وتې، هلته پاتې کېدې...
زمکه برخه زما وه!
بد وډار شوم، لاس مې کړ، چې ټولو ته اور واچوم؛ کتل مې دباندې يم!
دنيا ده او «کاپېر، کاپېر» سړي، او «بې‌اجازې، بې‌اجازې» فکرونه او د مړيو پر خاطرو ننگ کول!
زړه مې و چيغې کړم...بيا ژر له ځانه وډار شوم. دننه ښاماران پراته وو!!!
د بل جنس د ښکلاوو، طلايي تاجونو، قصرونو او کبرونو «شهوت»!
د ذهن په چلونو او د احساساتو او عواطفو په لاسونو، د «قهر» اور هره خوا شيندل کېده.
سپينې شيبې او پاکې شيبې، د «طمعې» د ښامار غرهارې پړسولې،
(ځواني او زړښت په همدې کې ولاړه!)، په سړيانو او شيانو «تړلتيا»
اووووو...«ځانپالنه»!
گوښې ته شوم، چې «باچا» ته عريضه وليکم: عريضه، همدا وه!
خندا راغله او غاښونه مې سره وچيچل! څه شى را په‌کې را ويښ شول:
«مومن¬خان»، همدا وخت و!
خو شيرينو نه وه، چې اوښکو ته مې شمال جوړ کړي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له اوو سیندو او اوو غرو مې ور واړوي؛ تر خدایه پورې!

ما ته اورونه را په خوله وو.

زه خپلو بېچوړو ښامارنو کې پروت؛ د ښامار ټوله سفرنامه وم.

هرڅه مې کتل!!!

هرڅه مې جوړ ول!!!

خو شیرینو نه جوړېده! شیرینو را په‌کې ورکه وه.

پاڅېدم چې ټول مال او حال په شیرینو ور وسوزوم.

اورم، چې شیرینو له دننه، دننه را په‌کې روانه وه؛

ده!

ودرېدم! چوپ شوم! په هوا کې وچ شوم. حتا پښې مې اضافي وې!

دادی ومې موندله:

د دنیا غټ اور زه وم. زه پر شیرینو ور «بل» وم.

شیرینو په ما کې روښانه وه، مومن‌خان ما وېده درلود.

او خدای تر دې ټولو نېږدې، نېږدې!

دنیا تکه سپینه پراخېده؛ خو «ځای» یې نه و!

ځای یې زه وم؛ زه وم ولاړ.

بېرته شوم؛ خو دنیا چېرې ولاړه نه!

دنیا نه وه، همدا سپینه وه، سپینه دنیا په هر شي کې وېده وه.

دنیا چا نه وه لیکلې.

دنیا نه مکان درلود او نه وه په زمان کې سپره.

دنیا دننه وه. زه دننه وم. هېڅوک مې پاتې نه‌شول؛ پرته له یوه نه!

هغه هم زما نه و.

د یوه هم نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په (ځان) کې و او ټول په ځان کې په بقا وو.

له دې سره: له «خپل» پرته، د هېڅا «زه» نه و. او هېڅ څوک «زه» نه و؛ خو هرڅه په بقا کې...

## د درک شېبه

درک یوه لحظه دی. او ناڅاپه پېښه کوي.

او بیا په اوږده مثنوي کې وربېږي، وربېږي، وربېږي...

او ورپسې د متشریحینو، وږیاخور ټولګی، لیکه کوي؛ زمان همدې ته وایي.

رښتیا!!! (زمان) هم د (فزیک) جنس دی.

اکاډمیک فکر لګیا دی، هستي تشریح کوي؛ خو هستي هماغه یوه شیبه درک کې دننه ده.

درک ته به بې‌خولې، بې‌ژبې، بې‌لاسو او بې‌پښو، او بې‌حواسو، ور ننوځې.

درک یو دی، نه یې مانا کولای او نه یې د په ذهني حواسو موندلای او ځایولای شې.

درک له ذهن او حواسو ها خوا دی.

درک (یو) څېز تجربه کول دي.

د درک د روح حس دی. او روح هېڅ پوله نه‌لري.

هېڅ ځای، نه ځایږي؛ ځکه ځای یې نه‌شته.

هغه هېچېرې نه‌شته، ځکه (ځای) نه‌شته.

درک شته! بله خبره نه ورسره جوړېږي. درک نه‌شم ویلای!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درک ژبه غږ او توري نه لري. ددې ژبې نسب نه‌شته.

دا ژبه یوه کلمه، یو نوم دی؛ خدای!

په دې ژبه چې وغږېدلې، بیا روح شوې، بیا خدای شته.

بیا چېرې نه ځې!

بیا څوک نه وژنې، نه سموې!

بیا هرڅه په پاخه فصل کې دي.

بیا یوازې یو خدای شته.

بیا هره خبره، هر نوم، هر حرکت، د یوه په ذکر بدلېږي.

بیا توبې او زارۍ نه‌کړې؛ ځکه په هرڅه کې، په عبادت کې یې!

خو «زما» «عقل»، روح چېرې دې ته پرېږدي، چې په کاغذ او قلم را تېر شي!

...

درک د روح وېښه شیبه ده.

درک روح وېښېدل دي. او روح شته؛ ځکه خدای یې شته.

اخلاق همدا دی؛ «خدای شته!».

## حکمت او شیبه

درک، خرد را څرګندوي. خرد لومړنۍ پوهه ده؛

نه جوړېږي او نه یې حسي-ذهني ابزارو ته اړتیا شته.

دا د ټول حقیقت زده کړه ده. دادې حقیقت ژبه ده. خرد، ټوله زده کړه ده؛

خو ټوله نړۍ چې چاڼ کړې؛ ټولګی او ښوونکی به یې ورڅخه دباندې راونوځي.

خرد دننه راوېښېږي. دا ژوندۍ پوهه ده؛ هغه هم همدا شیبه، همدا اوس!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ته به خپله لوښی کېږې، دابه خپله زده کوې، دا به له ځانه اورې!

ځکه خرد دننه دی. لکه روح همالته ناست وېده دی.

خرد ژوند ده؛ ژوندی دی...مخامخ، روڼ او ساده غږېږي؛

خو توري او کلمې ورپورې وچې وچې نښلي، ودروي يې!

هغه په زاړه ليک کې، د غېو تارونو خوړلی، وژلی؛ ځکه په تورو کې وژلی پروت دی.

توري او کلمې هم په دې منزل اخته دي، چې حقيقت په‌کې وشي؛ خو حقيقت شيبه ده.

يوازې (اوس) غږېږي؛ خو متن، تللې زمانه وايي...څه ووايم!!!

څومره چې هستي ژوندۍ وينم؛ ټول حکمت دی!

## مينه په هره خوا چې ځي هغه ته رسېږي

که مينه¬گر شم؛ راڅخه دومره مهال ورک به مې پيدا شي.

که مينه¬گر شم؛ ټوله ورکه به يې ورکه کړم.

که مينه¬گر شم، د ټولو الماسو، سروزو تاج به په سر وتړم؛ هغه ته به ځم!

هغه، ددې پرځای چې ولاړ شي، (شته)!

مينه¬گر که شم، چېرې به نه ځم؛ له هغه به نه ځم!

حرکت نور نه‌شته؛ هالته غوړېدل دي؛ هومره چې هم ستوری يې،

هم ستوريويني، هم ستوري ستا په بې‌دليله اګاهۍ کې شته!

چا ته به نه ورګورم، څوک به نه وينم، څوک به نه وي،پرته...

آه، چې مين نه يم، نوم يې څرنګه اخلم!!!

مينه¬گر څه نه‌لري، پرته له هغه نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه¬گر څه نه وايي، پرته... څه نه اوري...چېرې نه ځي...څه شی نه مومي...

مینه¬گر په هره خوا چې ځي، هغه ته ورځي.

او هغه یو ده، یوازې ده، او پرته له دې څه شی نه‌شته...

هغه هېڅ ځای نه‌شته، یوازې زما له خوسا حافظې ور ها غاړې...

چې مینه¬گر شم، قند او شحمیات، نباتات او حبوبات به نه‌خورم...

غواوې او وزې به تر هغو ژوندۍ گرځي، چې هغه، پرې ایښي.

## کله چې مینه په خوراک بدله شي

مینه، به خورم، مینه به کړم، مینه به وم.


مینه هسک ته تللې پتې او زینې دي.

مینه له خدایه را روانه ده؛

اوري، چې ټول خیشته کړي؛تر هغه پورې!

ټول په مینه خیشته، پیشته کړي، یوازې یو پاتې شي

او هغه خپله مینه، خپله مینه، خپله مینه...




(c) ketabton.com: The Digital Library



## مینه کور ته د ورتللو بیړۍ

مینه، تر ژوند دمخه، تر زه او ځان دمخه،
تر هرچا او هرشي دمخه د هغه، لومړنی ټوله نښه.
مینه، په ټولو شته نومونو، رنګونو، ولسونو
مېړیانو او ګربتانو بار کښتۍ.
مینه، له آسمانه د «فرار» ټوله لار.
مینه، لومړنی چیغه.
مینه، کور ته د ورتللو بیړۍ،
مینه، یوازینی مینه¬ګر چې یوازې مینه کوي؛
او «مینه» پرېږدي، چې سل زره رنګونه راوړي.
مینه، دومره مینه¬ګره، چې (فعل، فاعل او مفعول) نه لري.
مینه، ټول هغه څه چې شته. ټول هغه څوک چې شته. ټول هغه...
مینه د ټولې هستۍ خته!



مینه پرزمکه ژوندۍ سندره
مینه:
زه څه وینم، پرته له مینې؛ نور زه څه وینم؟!
زما ژبه دومره مینه پر اوږو نه‌شي وړای.
ژبې بېوزلی کړم، کنه چړې او تورې، ټوپک او زغرې، پنجرې او زولنې...
ما چېرې جوړولې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه:

مینه مې ونه کړه، عقل را ویښ شو!

عقل کورونه او کلاګانې، برجونه او مورچې را باندې را تاوې کړې.

زه یوازې شوم، له خدایه لېرې شوم.

زمکه د خدای وه، خدای مینه کوله؛ ما مینه ځانته سپموله، مینه ولاړه،

نوره نه وه.

مینه:

مینه وم، لاسونه او پښې، غوږونه او سترګې...مې واغوستل، په مینه پسې

ووتم،

همدا مې له بل سره مسابقه شوه.

زه مینې جوړ کړې، پنځولی، مینې پر زمکه را لېږلې، چې دومره مهال،

د حواسو د خوندو لهپاره سوالګر شوم.

مینه شته؛ خو چې وشي. د لوی مینه¬ګر زده کړه همدا ده.

مینه، برېښنا ده؛ نه زیرمه کېږي.

نه زیرمه کېږي، ځکه په وینو سره زمکه کې لا رڼا ځغلي، لا سندره شته.

## هغه خو ټولو سره په مینه دی

آه،

څه خوب و، چې په کې ماده، ماده شوم!

څه خوبونه وو، چې په کې نوم شوم، څېره شوم، نوم شوم څېره شوم، نوم

شوم څېره شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووو...ښېره که ښه وه، هغه به درلودله.

نوم که ښه و، ما به ورسره موندلی و.

عقل او لاره که یوه وه، ما به پکې موندلی و.

هغه شته، خو چې څه شی ونه وینم.

هغه غرېږي، خو چې څه شی وانه‌ورمه.

هغه شته، خو چې هېڅ شی ونه اوسم.

هغه راځي، خو چې ورته سپینه لاره شم.

-هووووو...خبرلوڅه! ومې موندلې!

چې شته، څوک یې چې غرېږې؟؟؟

-ویې بخښلم، هغه خو ټولو سره مینه ده، هغه خو ټولو سره مینه ده، هغه خو ټولو سره مینه ده...

## «زه» د خاطرو هدیره!

د زمري ۱۸مه (یو څرک وشو، په نااشنا زمکه کې؛ زه به یې داسې راوړم)

زه، لکه څه شی؟!

(زه، څه شی یم؟ څوک یم؟ ولې یم؟؟؟)

پېژندپانه:

نوم، کلی، ټاټوبې، هدیره، خاطره...لومړنۍ-وروستنۍ پوهه!!!

نوم: م ح م د ا ن و ر...؛

دا توري څه دي؟ له کومه شول؟!

توري، هغه یوه زده کړه وه، چې پلرووو...

خپلې خاطرې او جګړې، ماتې او فتحې پرې لیک کړې، چې تلپاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلی، هغه ختمینه ځاله، چې ځان او قبیله او را ټول کړي مسي او طلایي
پیسې په کې خوندي وي.
ټاټوبی، هغه فاصله چې زما او آسمان پورې غځېدلې!
هدیره، هغه ختمینې، ډبرو پوښلې تورې شاه¬ګانې، چې زما د پلار او نیکه
غوښې
او ماغزه ¬یې خوړلي او لا هم غځېدلې، چې ما وخوري:
ماسره د ټول نژاد خاطرې او باورونه دي!
خاطره، هغه سپکې سپورې، چې پلار له نورو سره په جګړه او ماتې
خوړلې سوله کې ثبت کړي،
چې زه او را روان «زه» سر ور باندې کېږدم.
وروستی-لومړنی پوهه، هغه په توریو کې ګنډل شوی فکر چې دومره وچ،
وچ را په کې ګرځي را ګرځي.
دا خو ټول له زمان او مکان څخه جوړ شوم!
دا خو پېژندپاڼه نقلي وخته!
دا خو زه نه یم؛ زه هغسې نه یم چې پیدا یم.
زه چېرې پروت، ولې پروت، زما ویښه د چا ده؟
نه! ویښ نه وم؛ کنه مړي را په کې نه روانېدل!
زه د مړیو بېړی، زه د زمان او مکان له خاورو دوړو پوخ معبد،
او خاورین را په کې بتان ولاړ دي.
زه، څومره ورک، څومره هېر، څومره لېرې!!!
زه، هغه څرک، هغه ټکی، هغه پیل یم، چې دومره زمانه نه یم اوسېدلی؛
ورکه مې همدا ده!!
هرڅه شته، ځکه چې خدای یې شته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اه، زه څومره ښه وم، زمکه څومره ښه وه؛ همدا مې مدرسه وه:
زده مې شول، چې زمان او مکان، یو له بله سره مري، یوازې (...) شته!
را یادېږي، چېرې چې زه یم، هغه هم شته...
که را په یاد شم، که را په یاد شم، که راپه یاد شم...
زرینې کرښې: «دنیا ته اجازه وکړه، څرنگه انتخابوي یې، ځان‌ته دې اجازه ورکړه، څرنگه یې چې انتخابوې، ژوند وکړې.» ریچارد باخ

## روح د آسمان وگړی

وگړی روح دی؛ خو لا خبر نه دی، چې «روح دی»!
شته انسان‌وگړی، د ذهني، عاطفي، او رواني، سیالیو، لوب‌غاړی دی!
روح، نه شکل دی، نه جسم؛
نه زماني دی او نه مکاني؛
نه مادي دی او نه د انرژۍ وړی.
روح، د ابدیت له غېږې، د زمان-مکان هستۍ ته را نقل شو.
دومره مهال یې د غوښو-هډوکو کالبوت اغوستی، چې د مکان- زمان په عرصه کې،
د مینې په قمار سره، اسمان ته خپله دروازه فتحه کړي!

پوښتنه:
آیا اندونه او باورونه، هیلې او غوښتنې، دریځونه او کړنې مو د مینې عطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيندي!؟

شته افغانتولنه او افغانوطن، زموږ د فکرونو د امتحان پارچه ده!

نو؛

وخت يې دی، چې خپل ذهنونه، د مينې او رحمت په درياب کې ووينځو او سپين شو.

«ابديت، د زمانومکان له حسه آزاد د ژوند.»

ابديت، يعنی په «شېبه» کې مقيم کېدل.

افسوس! زموږ عقل تر مصري کتيبو وړاندې، ګام نشي ايښوولای.

ابديت لهپاره بايد، سترګې او ټول حواس او توجه بايد پر حاضروناظر خدای ډکې شي!

د هر وګړي ازادي، د هغه د اګاهی تجسم دی.

اوس خپله معلومولای شو، چې اګاهي مو څومره د کار څيز ده؟

پای هم د غږ او رڼا ستورمزلی استاد څو مرغلرې:

«هغه خپل هرڅه نورو ته ورکوي او - د ځان پر وړاندې د نورو زياتی، بخښي.»

«هغه هېڅمهال، هېڅوک او هېڅ شی، خپل دښمن نه ګڼي.»

«هغه د خدای د هېڅ مخلوق په وړاندې نهجنګېږي او هېڅ شی خپل دښمن نه ګڼي.»

«هغه هېڅ مهال څوک نه اړ کوي، چې د هغه طريقه، ومني.»

«هغه احکام او تشريفات نه وضع کوي. قانون نه جوړوي. او چيغې نه وهي،

چې خدای پر لور، تر ټولو غوره لار له ده سره ده!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«هغه ته‌ینګار کوي، چې هر وګړی د خپلو کړنو او ویناوو پیرو واوسي.»

# برکت دې وي



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**